# فراه مغکریان

المرصاد خپروندویه اداره

ALMERSAAD

# د کتاب ځانګړنې

د کتاب نوم: فکري ارمغان

ليکوالان: بېلابېل

موضوع: د داعشي خوارجو رد، ديني، سياسي، جهادي او دېته ورته نور مختلف او بېلابېل موضوعات

ژبه: پښتو

ګڼه: درېیمه

وراندې کونکې: المرصاد خپرندويه اداره

ALMERSAAD

# فکري ارمغان

په معاصره نړۍ، په ځانګړې توګه په اسلامي هېوادونو کې د روانــو سیاسي حالاتــو، د مسلمانانو په وړاندې د نړېوالـو کفریا و صلیبي قوتونو له لوري د پلان شویو شومــو پلانونو، احتمالي پېښو، ننګــوونو، رقــابتونو، معاصرو فتنو، داعشي خوارجو او همداراز د نورو نویو باطلو پدیدو، افکارو او خوځښتونو په اړه

د بېلابېلو اسلامپالـو لیکوالانـو، جیدو دیني علماوو، محللینو او شنوونکو د مختلفو دیني، تاریخي او سیاسي څېړنو، تحقیقاتو، مقالو او آثارو

## ټــولــګــه

درېیمه ګڼه

# لیکلړ


١ د المرصاد مهالنۍ تبصره ١
٢ د افغانســتان و پاکســتان اړیکــې؛ د پــوځ دننــه یــوه کــړۍ د ســتونزو سرچینه ١
٣ لومړی فصل ٤
٤ د امت نومیالي ٤
٥ د شهید حافظ منصور تقبله الله ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه ٥
٦ د شهید ملا محمد منصوري تقبله الله ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه ١٠
٧ دویم فصل ١٣
٨ خوارج العصر ١٣
٩ داعش؛ د خلافت بدنامونکي ١٤
١٠ داعش په ورکېدو دی ! ١٨
١١ د جهادي غورځنګونو په وړاندې د داعش افراطي دریځ ٢١
١٢ داعش د استخباراتي سازمانونو استازي ٢٥
١٣ د داعــش ســفر؛ پــه عــراق کــې لــه ظهــوره بیــا پــه افغانســتان کــې تــر ماتې پورې ! ٢٧
١۴ دریيم فصل ٣٠
١٥ دیني او جهادي لیکنې ٣٠
١۶ د اسلامي نظام په چوکاټ کې د امر بالمعروف بارز رول ! ٣١
١٧ د بهرنیو هېوادونو سره د اسلامي امارت اړیکې د اسلام په رڼا کې ٣٣
١٨ رسول الله ﷺ په څنګه وخت کې نړۍ ته راغی؟ ٣٦
١٩ اسلامي أمت پر کومه روان دی !؟ ۴١

۲۰ د تمدنونو په مرکزکې د اسلامي تمدن ځرك ۴۳
۲۱ څلورم فصل ۴۵
۲۲ سياسي او ټولنيزې ليکنې ۴۵
۲۳ پر افغانستان د شوروي يرغل؛ لنډ تاريخي شاليد او د نورو لپاره د عبرت درس ۴۶
۲۴ د ابدالي او غزنوي بچيان خپل غږ نه پرېږدي ! ۴۸
۲۵ د اسلامي امارت سپېڅلی نظام او د ډيموکراسۍ ناوړه لمن ۵۰
۲۶ د او آی سي متنازعه غونډه؛ د پاکستان د لاسوهنې د پاليسۍ دوام دی ! ۵۳
۲۷ پاکستاني رژيم د افغانستان د پخوانۍ اداري (جمهوريت) پر نقش قدم ! ۵۶
۲۸ پاکستان دې د افغانانو له تاريخه عبرت واخلي ۶۰
۲۹ د او آی سـي متناقـض دريـځ؛ د ملالـې ملاتـړ، د افغـان ښـځو حقوقـو تـه اندېښنه خو د فلسطين پر حال چوپتيا ۶۱
۳۰ آيـا د الحـاج خليـل الرحمـن حقانـي تقبلـه الله شـهادت، د نظـام د ضعـف او د دښمن د قوت په معنی ده !؟ ۶۴
۳۱ د افغانستان اسلامي امارت خپلواك بهرنی سياست – د نوي پيل نښه ۶۶
۳۲ افغانستان د بشپړې سولې او آرامۍ ټاټوبی ! ۶۸
۳۳ پنځم فصل ۷۰
۳۴ بېلابېلې ليکنې ۷۰
۳۵ پاکسـتان پېښـور او ځېرمـه سـيمو کـې د داعشـيانو د روزنيـزو مراکـزو پـه شتون اعتراف وکړ ۷۱
۳۶ داعشـي خـوارج پـه راټولـو شـويو پيسـو کـې د خپلـو مسـؤلينو فسـاد اندېښـمن کړي دي ۷۲
۳۷
۳۸ په کابل ښار کې د داعشي فتنه ګرو يوه مهمه شبکه نيول شوې ۷۴

# د المرصاد مهالنۍ تبصره

## د افغانستان و پاکستان اړیکې؛ د پوځ دننه یوه کړۍ د ستونزو سرچینه

تېره شپه د پاکستان جنګي الوتکو د ډیورنډ فرضي کرښې سره د پکتیکا برمل ولسوالۍ کې بمباري وکړه، چې دا د نړېوالو قوانینو او بشري حقونو څخه ښکاره سرغړونه بلل کیږي. دا برید په داسې وخت کې ترسره شو چې د پاکستان یو سیاسي پلاوی د افغانستان لپاره د ځانګړي استازي صادق خان په مشرۍ په کابل کې د افغان حکومت له مشرانو سره د ملاقاتونو او مذاکراتو په حال کې و. دې برید یو ځل بیا په سپول (ملکي) حکومت په فوځ کې د یوې خاصې کړۍ بالادستي (حاکمیت او واک) نړۍ ته لا ورښکاره کړ.

د پاکستان سیاسي حکومت که یوې خوا ته، د سفارتي او ډیپلوماتیکو خبرو اترو له لارې د اړیکو ښه کولو په هڅه کې دی، خو بلې خوا ته بیا یوه کړۍ ده چې نه غواړي دا هڅې کامیابه شي دې، ځکه هم د بې ګناه خلکو وینه تویوي، چې دا د دې کړۍ د منافقت، غیر مشروع سیاست او غیر سنجیدګۍ بدترینه بېلګه او تلپاتې شېوه ده.

په فوځ کې دا کړۍ د ملکي او دولتي کټو په مقابل کې خپلو کټو ته لومړیتوب ورکوي او داسې کامونه پورته کوي چې نه یوازې په سیمه کې بدامنۍ ته لمن وهي، بلکې خپل ولس او هېواد په نړیواله کچه د شرمندګۍ، ذلالت او داخلي تشنج سره مخ کوي.

د افغانستان په خاوره د بمبارۍ له لارې، دې خاصې کړۍ دا پیغام ورکړ چې د دوی لخوا په سیمه کې د سولې او پخلاینې د هرې سنجیده، مثبتې او رښتینې هڅې مخنیوی به د دوی لخوا دوام لري. د ټي ټي پي و پاکستاني دولت ترمنځ د مذاکراتو سبوتاژ هم د دې کړۍ یوه کامیابه هڅه وه او هغه جنرالان چې د سولې له لارې یې د ستونزې حل غوښت، ځینو ته یې ډول ډول قضیې جوړې کړې، ځینې یې له هېواده تېښتې ته اړه کړل او ځینې یې بیا په مختلفو بهانو زندان ته واچول.

په دې برید کې دېرۍ هغه کډوال په نښه شوي دي چې په پاکستان کې د کورنیو پوځي عملیاتو له امله له خپلو کورونو بېځایه او د افغانستان په سیمو کې د پناه اخیستو ته اړ شوي وو. د دې کډوالو لپاره د افغانستان حکومت د فرضي کرښې

څخـه لـرې د كډوالـو كيمپونـه جوړ كـړي دي او ډېـرى يـې هماغـه ځاى تـه انتقـال شـوي هـم دي، تـر څـو د پاكسـتان ځينـي اندېښـنې خـواب او لـه منځـه لاړې شـي، خـو د دې هـر څـه سـره سـره بيـا هـم پـه افغـان خـاوره د بـې ګنـاه خلكـو پـه نښـه كـول نـه يواځـې غيـر اخلاقي او غير شرعي كار دى، بلكې له نړېوالو قوانينو څخه ښكاره سرغړونه ده.

د پاكسـتان پـه فـوځ كـې د دې خاصـي كـړى‌دا چلنـد لـه هېڅـا څخـه پټ نـه دى چـې دوى د خپلـې بقـا او اقتصـادي ګټـو لپـاره جګـړه او بدامنـى ضـروري بولـي. د افغانسـتان او پاكسـتان د اقتصـاد د پرمختـګ د زيانمنولـو لپـاره قصـداً داسـې بريدونـه كـوي او غـوارې چې دواړه هيوادونه په يوه بله جګړه كې ښكيل كړي.

د دې كـړى‌دا ډول كړنـې دا ثړګنـدوي چـې دوى پـه هېـڅ بيـه پـه سـيمه كـې سـوله او امنيـت نـه غـواړي ځكـه چـې د سـولې د ټينګېـدو سـره بـه نـه يواځـې د دوى عسـكري او سياسي اهميت ختم شي، بلكې د دوى جګړېز اقتصاد به هم سخت زيانمن شي.

د پاكسـتان داخلـي وضعيـت د دې پاليسـى بشـپړ انځـور وړانـدې كـوي. هېـواد يـې دا مهـال لـه سـخت سياسـي او اقتصـادي بحـران سـره مـخ دى چـې اصلـي وجـه يـې پـه هـره مسـئله كـې د دې خاصـې كـړى‌مداخلـت دى. دوى هېـواد خپـل شـخصي جاګيـر او ملكيـت ګڼلـى، چېرتـه چـې سياسـي مشـرتابه كمـزوري كـول، سياسـتوال زندانونـو تـه اچـول، رسـنيو بانـدې بنديزونـه لګـول، او پـه عـام ولـس ډزې كـول او د هغـوى وژل او لادركـه كـول د معمول برخه ګرځېدلې ده.

دا مهـال سياسـت او اقتصـاد دواړه د دې كـړى‌د ناكامـو تـګلارو قربانـي شـوي دي، چـې ولـس تـه يـې سـخت زيـان اړولـى دى او آن دوى يـې د بنيـادي حقونـو څخـه هـم محرومـه كـړي دي.

پـه افغانسـتان د دې خاصـي كـړى‌بريـد بريـد كـول، دا حقيقـت لا روښـانه كـوي چـې پـوځ د خپلـو كورنيـو ناكاميـو د پټولـو لپـاره بهرنـي بريدونـه يـوه وسـيله ګرځولـې ده. د دې خاصـې كـړى‌دا تـګلاره نـه يـوازې پاكسـتان پـه نړېوالـه كچـه منـزوي كـوي بلكـې په سيمه كې بدامنى او كړكېچ ته هم وده وركوي.

پـوځ پـه نړېوالـه كچـه د خپـل جګړييـز اقتصـاد د پيـاوړي كولـو لپـاره داسـې اقدامـات كـوي چـې پـه دې سـره دوى د پـوځ د جنرالانـو جېبونـه خـو ډكـولاى شـي، خـو هېـواد او عـام وګـړي يـې نـور بـې وزلـه او بـې ثباتـه كـوي. د دې كـړى‌د پاليسـو لـه املـه، پاكسـتان پـه نـړى‌كـې د يـو غيـر مسـؤل دولـت پـه توګـه راڅرګنـد شـوى، چېرتـه چـې نـه د قانـون

حاکمیت شته، نه د بشري حقونو احترام، او نه هم د نړېوالو قوانینو منل او مراعاتول.
په تېرو څو لسیزو کې پوځ د پاکستان کورنی او بهرنی تګلارې د خپلو کټو لپاره داسې تاوې کړې دي چې نه یوازې د دوی شهرت یې زیانمن کړی، بلکې په سیمه کې د سولې د ټینګښدو امکانات یې هم له منځه وړي دي. په افغان خاورې بریدونه، که هغه ظاهراً د کوم تش په نوم خطر په مقابل کې وي یا د بلې پلمې لاندې، په حقیقت کې په پوځ کې د دې کړی د هغو پالیسو برخه ده چې هدف یې د خپلو اقتصادي کټو خوندي کول دي، که څه هم په دې کې د زرګونه بې ګناه انسانانو وینه تویېږي.
د پاکستان ولس باید دا پوښتنه وکړي چې دا کړی به تر کله دا غیر مسؤلانه پالیسی پر غاړه وړي او تر څو به داسې یو نظام نه راځي چې پکې د انساني ژوند او نړېوالو قوانینو احترام ته لومړیتوب ورکړل شي.
پاکستانی ولس باید پوه شي چې د پاکستان د فوځ دا خاصه کړی نه غواړي چې دا دوه ملتونه سره نږدې شي او د دوی ترمنځ د بې باورۍ د ایجاد، روان او احساساتو د خپلو لپاره یې مختلف ادرسونه رامنځته کړي، او همدا رنګه په پاکستان او سیمه کې بهرنۍ اجنداوې پر مخ وړي.
افغانستان اوس د یوې قوي مشرتابه لاندې دی، چې د هر ډول یرغل پر وړاندې د اغېزمن او زړور ځواب ویلو پوره وړتیا لري. د پاکستان هیڅ کوم یرغل او برید به بې ځوابه پاتې نه شي. که سیمه د پاکستان د پوځ د غیر مسؤلانه تګلارو له امله جګړې ته ورټېل وهل شي، نو د دې ناوړه اغېزې به د دواړو هېوادونو ولسونه وزغمي.
اوس هم وخت دی چې د پاکستان ولس او سیاستوال د دې مسئلې جدي والي ته پام وکړي او د بې کنټروله دې پوځي کړی د غیر ضروري مداخلتونو مخه ونیسي، ترڅو پاکستان، افغانستان، سیمه او نړۍ د دوی له منفي اغېزو خوندي پاتې شي.

# لومړی فصل
# د امت نوميالي

## د شهيد حافظ منصور تقبله الله ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

په تياره کې يوازې ستوري ځلېږي؛ د خدای جل جلاله پر دا عظيمه او لويه برخه موجوداتو کې، د ځمکې پر اُفق همدا ستوري ځلېږي، چې د لارويانو او لار ورکو د لارښوونې او منزل ته د رسېدو په پار د دوی رهنمايي کوي.
هوکې ! د دغه ځلېدونکو ستورو له ځلېدنې، لار ښودونکې ځلا او جهت ښوونې له هنره هغه خلک، هغه کسان او هغه انسانان استفاده کولای شي؛ کومو ته چې همدغه ستر او لوی ذات جل جلاله د دوی په سينو کې د هدايت او لارښوونې ډېوه بله کړې وي.
همدغه الهي ډېوه د دغو سپېڅلو او په الهي ډېوه سمبالو رجالو د ځلېدنې، تيارو او تاريکيو کې د نورو انسانانو د لارې مشال جوړېږي، نو غوارم د همدغې مسير د ځلانده ستورو له مداره وتلي ستوري؛ پر زوکړې، زده کړو او مبارزې ليکنه وکړم.
د اسلامي اُمت د مېړنيو، نوموتو، نومياليو، سر ښندونکو او سر سپارليو اتلانو له کتاره وتليو غميو؛ يو يې هم اتل قهرمان د اسلامي اُمت او اسلامي مقدساتو څخه د دفاع په موخه د هر رنګه او هرې دسيسې پر وړاندې لکه سپر ولاړ او له کمان وتلی غشی؛ د دښمن له زړونو او سينو وتلی تير؛ شهيد حافظ زين الله چې په حافظ منصور يې شهرت درلود؛ دی.

**١ زېږېدنه:**
د الله جل جلاله د لارې اتل، قهرمان د کُفر او کُفري دسيسو پر وړاندې د اسلامي اُمت د کرمو سنګرونو ستری مجاهد شهيد حافظ منصور تقبله الله د مرحوم سورګل زوی، د ميدان وردګو ولايت چک ولسوالۍ د بابا قلعې اوسېدونکی، په ۱۳۷۵ هجري شمسي کال د وردګو ولايت بند چک ولسوالۍ د بابا قلعې کلي، د مرحوم سورګل درنې کورنۍ کې دې فاني نړۍ ته سترګې وغړولې.

**٢ زده کړې:**
شهيد حافظ منصور تقبله الله خپلې لومړنۍ زده کړې د خپل کلي مسجد کې د کلي له امامه وکړې او بيا يې ورووسته د قرآن عظيم الشان زده کړې او حفظ د

کابـل ولایـت پنځمـې حـوزې اړونـد نیازبېـك سـیمه کـې، د ابـي ابـن کعـب رضـی الله عنـه پـه دینـي مدرسـه کـې پیـل او همـدې مدرسـه کـې د قـرآن عظیـم الشـان د حفـظ لـه دسـتار بنـدۍ سـر بېـره؛ پـه همـدې دینـي مدرسـه کـې اسلامـي علـوم تـر وړې دورې ولوستل.

## ۳ مبـارزه:

شـهيد حافـظ منصـور تقبلـه الله د خپلـو درسـونو د تعقیـب تـر څنـګ، د وردګـو ولایـت سـیدآباد ولسـوالۍ د شـنیز جهـاد پـروره او شـهید پـروره دره کـې، د الحـاج مولـوي محمـد نبـي خالـد حفظـه الله ډلګـۍ اړونـد د صلیبـي اشـغالګرو او داخلـي مزدورانـو د سـتر او نوموتـي قاتـل او همدارنګـه د صلیبـي اشـغالګرو پـه تـور لېسـت یـا د جایـېـزو پـه لېسـت کـې شـامل سـر ګـروپ اتـل قهرمـان شـهید امیـرګل قریشـي تقبلـه الله لـه ملګـرو سـره جهادي خدمت پیل کړ.

نومـوړي د خپلـې جهـادي مبـارزې پـه جریـان کـې د خپلـو نظامـي وړتیـاوو د لـوړاوي پـه پـار د تیـوري وړتیـاوو سـربېره خپلـو او د خپلـو ملګـرو مجاهدینـو فزیکـي وړتیـاوو د لوړولـو لپـاره زیـات تمرینـات تـر سـره کـول، تـر څـو د دښـمن پـه وړانـدې د یـو خـورا بیـدار، ځیـرك او مقاوم مجاهد په شـکل خپله مبارزه تر سـره کړي.

شـهيد حافـظ منصـور تقبلـه الله بـه پـه ټولـو نظامـي عملیاتـو کـې د خپلـو مشـرانو او ملګـرو تـر څنـګ د یو با تجربـه، زړور او دلاوره مجاهد په حیث رول ادا کاوه.

چونکـې زه خپلـه د شـهید حافـظ منصـور تقبلـه الله د نظامـي وړتیـاوو او همدارنګـه پـه نظامـي ډګـر کـې دده د زیاتـو سربښـندنو، زړورتیـاوو، نظامـي تکتیکونـو او قربانیـو عینـي شـاهد یـم؛ شـهید حافـظ منصـور بـه پـه هـر ډول نظامـي عملیاتـو او سـختو حالاتـو کـې د مشـر او نورو ملګرو تـر څنګ د اعتماد یوه پخه او نه نړېدونکې سـتنه وه.

شـهيد حافـظ منصـور تقبلـه الله بـه تـل د اسلام او مسـلمانانو د هـر ډول دښـمن پـر وړانـدې د تر ټولې سختې او کارنده مبارزې تکل درلود.

شـهيد حافـظ منصـور تقبلـه الله د دې تـر څنـګ چې پـر یـاده سـیمه کـې پخپلـه سـپېڅلې مبـارزه مصـروف وو، پـه کابـل کـې د الحـاج حمـدالله حیـدر صیـب حفظـه الله سـره د یـو فعـال چریکـي مجاهـد او همدارنګـه هلتـه د ښـاري ملګـرو لپـاره د نظامـي توکـو او مـوادو پر برابرولو او ترانسـپورت کې د پام وړ برخه درلوده.

د دغــه ټولــو مصروفیتونــو ســربېره شــهید حافــظ منصــور د وردګــو ولایــت ســیدآباد

ولسـوالۍ اړونـد د قطعـې پـه تشـکيلاتو کـې څـو ځلـه د امرياکايـي پـروژې چـې د داعـش تـر نـوم لانـدې يـې تـل د اسلامـي اُفـق پـر لمـن ځلېدلـي سـتوري پـه کانـو ويشـتلي، د ننګرهـار پـر اُفق د شـيطان د دغـه هسـکو شـوو قطارونـو د نړولـو پـه پـار يـاد ولايـت تـه سـفرونه وکـړل او هلتـه يـې پـه مېړانـه او سربښندنې سـره د دوی پـر وړانـدې مبارزه وکـړه.

چـې اړونـدو مشـرانو بـه بـار بـار د شـهيد حافـظ منصـور تقبلـه الله پـه تشـکيلاتو کـې د کـډون غوښـتنه کولـه، البتـه دغـه سـفرونه يـا پـر دغـه تشـکيلاتو کـې خدمـت زيـات او لـه بـېلا بېلـو مشـکلاتو ډك وو، خـو شـهيد حافـظ منصـور تقبلـه الله بـه ډېـر پـه شـوق، ذوق، سـتر عزم او يوې قوي ارادې په دې تشـکيلاتو کې ګډون کـاوه.

شـهيد حافـظ منصـور د خپلـو هـم سـنګره ملګـرو تـر څنـګ، د اړونـدې سـيمې لـه نـورو مجاهدينـو او همدارنګـه اولسـي وګـړو سـره داسـې راشـه درشـه يـا تعامُـل درلـود، لکـه دوی چـې زيـات وخـت ملګـري پاتـې شـوي وي، يـا يـې زيـات عمـر يـو ځـای وخـت سره تېر کړی وي.

لـه ټولـو مجاهدينـو او عامـو مسـلمانانو سـره يـې نېکـه رويـه، حسـنه اخلاق او پـه ټولـه کـې د دوی خدمـت يـې لـه اخلاقـي اړخـه ځانګړنـې وې، لـه اخلاقـي اړخـه کـه څومـره هـم د شـهيد حافـظ منصـور يادونـه وشـي او يـا يـې زه پـه اړه ليکنـه وغځـوم؛ بيـا بـه هـم د نومـوړي لـه اخلاقي بُعد يا برخې څخه مشُت نمونه يې خروار وي.

دا چـې د شـهيد حافـظ منصـور تقبلـه الله کورنـۍ کابـل کـې اوسـېدله او نومـوړی وردګـو کـې د شـهادت تـر ورځـې مسـافر وو، د همـدې سـيمې لـه مجاهدينـو، ولسـي خلکـو او پـه ځانګـړي ډول د شـنيز درې د پټانخېلـو کلـي کـې لـه اسـتاد دُر محمـد او اسـتاد محمـد جاويـد سـره چـې نومـوړی بـه زيـات همـدې کورونـو کـې اوسـېدلو، د کورنـۍ د يـوه غـړي پـه صفـت وخـت تېـر کـړ او د همـدې کلـي پـه مسـجد کـې بـه يـې د روژې مبارکـه مياشـت کـې د قرآن عظيم الشـان ختم هم کاوه.

د شـهيد حافـظ منصـور تقبلـه الله د ټولـې مبـارزې، سربښـندنو، قربانيـو او هلـو ځلـو يوازينـۍ موخـه او هـدف د الله جـل جلالـه پـر ځمکـه د هغـه د قوانينـو نفـاذ او د يـو سـوچه سـپېڅلي اسلامي نظام جوړښت و.

**۴ شـهادت:**

شـهيد حافـظ منصـور تقبلـه الله د وردګـو ولايـت سـيدآباد ولسـوالۍ کـې پـه زياتـو

عملياتــو كــې د فزيكــي حضــور تــر څنــګ، څــو ځلــه د اسلام، مســلمانانو او پــه ځانګړي ډول پـه نـړۍ والـه کچـه د اسلامـي خوځښـتونو او حرکتونـو د تضعيـف او لـه منځـه وړلـو پـه پـار د ايجـاد شـويو داعشـي منحريفينـو پـر ورانـدې د ننګرهـار غرونـو تـه جهـادي سـفرونه وکـړل او هلتـه يـې د دغـې منحرفـې پديـدې پـر ورانـدې د اسلام د نـورو غازيانـو تر څنګ پـه دغه لويه مقابله کې بارزه برخه واخيسته.

دا چـې يـادو منحرفينـو د غازيانـو تـر کارنـده بريدونـو لانـدې خپلـې د ناهيلـۍ سـلګۍ وهلـې او د نابـودۍ پـر کړنـګ ولاړ وو؛ نـو دې وخـت کـې اشـغالګرو لـه دوی سـره د خپلـې همېشـنۍ همـکارۍ لـه مخـې د مجاهـدو غازيانـو پـر لومړنيـو او لومـړي خـط سنګرونو هوايـي بريدونه او همدارنګه شپنۍ چاپې پيل کړې.

چـې د دغـه شـپنيو او هوايـي عملياتـو پـه جريـان کـې شـهيد حافـظ منصـور او هلتـه مېشـت د لومـړۍ ليکـې غازيـان د اشـغالګرو د چاپـې او هوايـي بريـد ښـکار شـول؛ چـې نومـوړی پـه کـال ۲٤/۸/۱۳۹۷ مـه نېټـه د ننګرهـار ولايـت خوګيانـو ولسـوالۍ اړونـد وزيـرو تنګـي سـيمه کـې، د داعشـي منحرفينـو څخـه د دفـاع او ملاتـړ پـه موخـه د اشـغالګرو د يـوې نامـرده چاپـې پـر مهـال، لـه زيـات مقاومـت وروسـته د اشـغالګرو پـه يـو هوايـي بريـد کـې د څـو نـورو ملګـرو سـره يـو ځـای د شـهادت لـوړ مقـام تـه ورسـېد، نَحْسَـبُهم كَذَالِك وَاللّه حَسَيْبُهُمْ.

### ٥ خاطرې:

د شـهيد حافـظ منصـور يـوه خاطـره انجينـر صاحـب صفـی اللّه چـې نومـوړی بـه د دوی پـه کور کې اوسـېدلو داسې بيان کړه:

د روژې مبارکـه مياشـت کـې بـه چـې کلـه نومـوړي د تراويحـو ختـم خلاص کـړ؛ نـو بـه يـې د سـيمې د جيـدو علمـاوو، مجاهدينـو او مخـورو پـه ګـډون يـو شـانداره محفـل جـوړ کـړ، د کلـي خلکـو او ځوانانـو بـه نومـوړي تـه جامـې او رختونـه پـه تحفـه کـې ورکـړل؛ پـر همـدې سـهار بـه يـې را غـږ کـړ: انجينـر صيـب موټـر چـالان کـړه او رختونـه لـه مهمـان خانـې را واخلـه، دواړه بـه لاړو دا رختونـه بـه يـې د شـهيدانو بچيانـو او بـې وزلـه خلکو کورنيو ته تقسـيم کړل.

### د شهادت يوه خاطره يې د خپل ورور له خولې:

لکـه څرنګـه مـو چـې مخکـې هـم يادونـه وکـره، د شـهيد حافـظ منصـور تقبلـه اللّه کورنـۍ او ورونـه کابـل کـې اوسـېدل؛ نـو شـهيد حافـظ منصـور دا وصيـت کـړی و،

چې ما به همدلته سیدآباد ولسوالۍ د پټانخېلو د کلي اړوند هدیره کې زمونږ د یو بل شهید ملکري فرید احمد چې پر کوچي مشهور وو تر څنګ دفن کوئ.
خو د کورنۍ مور او ورونو تر زیات اسرار وروسته، چې د هغوی دا غوښتنه وه چې شهید حافظ منصور به دلته کابل کې دفن کوو ور سره و مو منله.
ورور یې ماته کیسه کوله؛ وایي: زمونږ کوڅه کې د امنیت یو لوړ رُتبه کس اوسېده، هغې ته ورغلم همکاري مې ور څخه وغوښته، تر څو زمونږ د جنازې او مراسمو څوك مزاحمت و نه کړي؛ چونکه دغه وخت اوړی و، هوا سخته کرمه وه او د شهید حافظ منصور هم هلته ننګرهار کې شپې ورځې وې او لا یې له هغه ځایه راوړی نه و، نو یاد کس په ځواب کې راته ووېل چې کوشش وکړئ زیاته کرمي ده، چې څنګه مو د ورور جسد را ورسېد هسې بغیر له جنازې یې دفن کړئ، ځکه چې کرمي ده اوس به بیخي خراب شوی وي.
ورور یې وېل، ما ورته ووېل: چې که رښتیا په حقه شهید شوی وي، خو تر او تازه به وي او که په نا حقه مړ وي بیا به همداسې وي لکه ته چې وایې، وېل یې ده راته کړل:
دا دې ملانو خرافات دي، هر انسان خرابېږي اوس خو بیا بیخي خرابیږي؛ ځکه هلته ننګرهار کې ٤٥ درجې کرمي ده، پوهیږې کنه؟
وېل یې کله چې د شهید جنازه راورسېده؛ ما ورته زنګ وکړ، چې راشه اوس یې وګوره! دا شهیدان دي؛ چې کله هغه د شهید منصور تقبله الله مبارك جسد ولید په ژړا شو او همداسې سلکیو واخیست او لاړ.

## د شهید ملا محمد منصوري تقبله الله ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

شـهید ملا محمـد منصـوري تقبلـه الله د غـور ولایـت د مرغـاب ولسـوالۍ د شـورابه کلـي اوسـېدونکی و، هغـه پـه ۱۳۷۲ هـ ش کـال کـې، پـه یـوه مذهبـي او دینـداره کورنـۍ کې دې نړۍ ته سـترګې پرانیستلې.

لومړنـۍ زده کـړې یـې پـه ۱۳۸٤ هـ ش کـال کـې د خپـل کلـي د مسـجد لـه ملا امـام سـره پیـل کـړې او بیـا یـې پـه ۱۳۸۵ او ۱۳۸٦ هجـري شمسـي کلونـو کـې د شـرعي علومـو د زده کـړې لپـاره فاریـاب ولایـت تـه سـفر وکـړ، لـه دې وروسـته یـې پـه ۱۳۸۷ تـر ۱۳۸۹ هجـري شمسـي کلونـو کـې کابـل او پـه ۱۳۹۰ او ۱۳۹۱ هجـري شمسـي کلونـو کـې یې پېښور او کوټې ته سـفرونه وکړل.

شـهید ملا محمـد منصـوري تقبلـه الله لـه کوچنیوالـي سـره سـم لـه فقـر او نـادارۍ سـره لاس او ګرېـوان و، خـو دغـه سـتونزې یـې هیڅکلـه د هغـه د زده کـړو او جهـادي فعالیتونـو پـه وړانـدې خنډ نـه شـوې، هغـه پـه ډېـر جدیـت او بریـا سـره خپلـې دینـي زده کړې تر لویې دورې پورې بشپړې کړې.

د جهاد او دعوت پیل:

پـه ۱۳۹۱ هجـري شمسـي کـال کـې، شـهید ملا منصـوري تقبلـه الله د امریکایـي اشـغال او فتنـې د ختمولـو پـه موخـه، مسـلح جهاد او دعـوت پـه رسـمي توګـه پیـل کـړ، هغـه یـو باایمانـه او زړور دعوتګـر و، چـې لـه ذلـت څخـه یـې کرکـه کولـه او پـه ډاګه یې د جهاد لاره خپله کړه.

شـهید ملا محمـد منصـوري تقبلـه الله بـه تـل د مسـلمانانو د بـې اتفاقـۍ لـه املـه خفـه و او پـه دې یـې افسـوس کاوه، چـې ولـې دوی پـه یـو صـف کـې د دښـمن پـر وړانـدې نـه درېـږي، هغـه د هغـو کسـانو پـر حـال ډېـر افسـوس کاوه چـې د جهـاد او مجاهدینـو مخالف و.

شـهید منصـوري تقبلـه الله د خپـل دینـي او ایمانـي مسـؤولیت د ترسـره کولـو لپـاره پرتـه لـه دې چـې سـتړیا احسـاس کـړي، د دعـوت کار تـه دوام ورکـاوه، د هغـه د دعـوت غږ پـه مسـاجدو، مجالسـو او نـورو ځایونـو کـې د مینـې او دلسـوزۍ سـره یـو ځـای پورتـه کېده.

شـاید مبالغـه بـه نـه وي کـه ووایـو؛ چـې شـهید ملا منصـوري تقبلـه الله د واقعـي

مجاهدينـو او د اسلامـي امـت لـه صادقينـو څخـه و، هغـه خپلـه ځوانـي د جهـاد او د اشـغالګرو پـر وړانـدې د مبـارزې لپـاره وقـف کـړې وه، پـه ټولـه کـې؛ شـهيد ملا منصـوري د لـوړو اخلاقـو او سـترو ځانګړتيـاوو څخـه ډک شـخصيت و، چـې د هغـه ټـول ژونـد د تأمل او مکث وړ دی.

بايـد د دې ډول شـخصيتونو د ژونـد پاڼـې واړول شـي او د هغـوی قربانـۍ راتلونکـو نسـلونو تـه مشـعل وګرځـي، ترڅـو راتلونکـی نسـل د هغـه پـه رڼـا کـې ګامونـه واخلي او د خپلو مشـرانو په لاسـته راوړنو وياړ وکړي.

پـه نظام کې د هغه مسـؤوليتونه:

شـهيد ملا محمـد منصـوري تقبلـه الله پـه اسلامـي نظـام کـې لانـدې مسـؤوليتونه درلودل:

1. د مرغاب ولسـوالۍ د کمېسـيون مدير
2. د مرغاب ولسـوالۍ د دعوت او ارشـاد مدير
3. د څلـور ولسـواليو (چارصـده، مرغـاب، دولتيـار، لعـل او سـرجنګل) عمومـي سرپرست
4. د غور ولايت د اقتصاد مرسـتيال.
5. د منبع الجهاد ځانګړې استازی و.

د هغـه جهادي او نظامـي فعاليتونـه نـه يـوازې د غـور ولايـت پـه حـدودو کـې وو، بلکـې پـه سـرپل، فاريـاب او جوزجـان ولايتونـو کـې يـې هـم دوام درلـود، سـره لـه دې چـې ډېـر فعاليتونه يې د غور ولايت په سـاحه کې ترسـره کړي وو.

د شهادت کيسه:

د شـهيد ملا محمـد منصـوري تقبلـه الله د شـهادت کيسـه لـه دې ځايـه پيلېږي چې کلـه داعـش د مرغـاب ولسـوالۍ د رغسـکن کلـي تـه ورسـېدل او هلتـه يـې قـرارګاه جـوړه کـړه، نـو دا د امـارت اسلامـي د مجاهدينـو لپـاره لـوی خنـډ وګرځېـد، د وخـت د والـي الحـاج مولـوي عبدالقيـوم تـر مشـرۍ لانـدې مجاهديـن د دې فتنـې د لـه منځـه وړلـو لپـاره مبـارزه وکـړه او د داعـش جنګيالـي يـې د جوزجـان ولايـت درزاب ولسـوالۍ تـه پـه شـا وتمبول.

وروسـته د اميرالمؤمنيـن شـيخ الحديـث والتفسـير هيبـة الله اخونـدزاده لـه خـوا د څلـورو ولايتونـو مسـؤلينو تـه د پراخـو عملياتـو امـر وشـو، چـې پـه دغـو عملياتـو کـې خوارجـو

(داعش) ته لویه ضربه ورسېده.

وروسته لـه شـاوخوا شـل ورځې مبـارزې، پـه ۱۳۹۷ هجـري شمسـي كال كـې، شـهيد ملا محمـد منصـوري تقبلـه الله د درزاب ولسـوالۍ پـه يـوه چاودنـه كـې، چـې د خوارجـو خبيثـو لخـوا پلان شـوې وه، د سـهار لـه لمانځـه وروسـته د شـهادت لـوړ مقـام تـه ورسـېد، نحسـبه كذالك والله حسيبه.

زمـوږ د اسلامـي او جهـادي تاريـخ تـر ټولـو زرينـه جملـه:
"اميرالمؤمنين شـهيد شو".

هغـه جملـه چـې د نـړۍ پـه كـوټ - كـوټ كـې يـې ويـده زړونـه را ويـښ او د سـترو دجالـي لښـكرو پـر وړانـدې يـې د مجاهـدو سرښـندونكو زلمـو د سـپېڅلې جهـادي مبـارزې انگېـزه لا پياوړې او غښـتلې كړه.

# دویم فصل
# خوارج العصر

## داعش؛ د خلافت بدنامونکي

لیکــوال: عزیزعازم

معاصـر اشـغال د معاصـري ټکنالـوژۍ، مـادي امکاناتـو او د سـرې یـا فکـري جګـړې لـه ټولـو امکاناتـو سـره پـه خپـل ځـواك لـه اسلامـي هېوادونـو د خوړونکـي ښـامار پـه توګـه غېـږ را کرځولـې ده او ځینـې پلانونـه یـې داسـې دي چـې نیمـه پېـړۍ او حتـی پـوره پېړۍ وخت اخلـي، تـر څـو لـه اسلامـي هېوادونـو او مسـلمان ملـت څخـه هغـه معنـوي ارزښـتونه ولوټـي چـې دا ملـت یـې د تاریـخ پـه اوږدو کـې سـرلوړی کـړی او د بنـده لـه غلامـۍ او په وضعـي قوانینو کې له را ښـکېلتیا څخه یې ژغورلی و.

لـه بـده مرغـه چـې خپـل دا ډول شـوم پلانونـه یـې د کلیسـا او سـترو یهـودي کمپنیـو پـه ملاتـړ د داسـې تـش پـه نامـه مسـلمانو مشـرانو پـه کارولـو پلـي کـړي چـې کلونـه کلونـه یـې ورتـه د خپلـو تبلیغاتـي وسـایلو او وسـیلو لـه لارې کمپایـن کـړی و او داسـې څېـرې یـې ورتـه تراشـلې وې چـې پـه ظاهـره د خپلـو هېوادوالـو پـه زړونـو کـې محبوبیت ور پـه برخـه کـړي، خـو د پـردې تـر شـا یـې بیـا حسـاب او کتـاب لـه دوی سـره و، د پلان د نـه عملـي کېدو او یـا لـه مهـرې څخـه د وتلـو پـه صـورت کـې یـې پـه پوځـي کودتـاوو او لاریونونو له لارې را نسـکور کـړي دي.

ښـایي تـر ټولـو معاصـره بېلګـه یـې هـم د مصـر د پخوانـي ولسمشـر محمـد مرسـي را پرځونـه او پـه شـهادت رسـونه وي، چـې خپلـه د مصـري پـوځ او د غـرب پلـوي مصـري پوځـي عبدالفتاح سیسـي په لاس یې دا کار تر سـره کړ.

د دې تـر څنـګ هغـه مشـران چـې د امریکایـي پوهنتونونـو لـه قوانینـو، ادارې او نړیوالـو اړیکـو لـه پوهنځیـو فـارغ شـوي او پـه ذهنـي لحـاظ یـې بـې هویتـه کـړي و، ددې استخباراتي او اشـغالي پروژو لپاره را وړاندې کړل.

د دې شـومو پلانونـو بـل اړخ هـم تکفیـري او خارجـي ډلـې وې چـې غربـي اسـتخباراتي سـازمانونو یـې ملاتـړ کاوه او د تاریـخ پـه اوږدو کـې یـې د سـوچه اسلامـي نظامونـو پـر وړانـدې بغـات او سرکشـي کـړې ده، چـې تـر ټولـو معاصـره منفـوره ډلـه یـې پـه عـراق او شـام کـې د داعش په نامه د خوارجو ډلـه وه او هلته یې واکمن کړل.

داعـش د امريکايـي اسـتخباراتو پـه ملاتـړ اسلامـي ارزښـتونه، مسـجدونه، شـعاير او رښـتيني واقعـي عالمـان يـو پـر بـل پسـې لـه منځـه يـوړل او تـر شـا يـې د هغـوی خپـل مالـي کاروبارونـه، جنسـي سـوداګرۍ، د تاريخـي اثـارو لـوټ او نـورې بـد فعلـۍ شـاملې وې، چـې ټـول اسـناد يـې همـدا اوس هـم پـه يوټيـوب او د خوارجـو پـه تبليغاتـي شـبکو کـې شـته دي، د خوارجـو پـر مټ د اشـغالي موخـو ځينـې نـور پلانونـه او ابـزار هـم پـه لانـدې ډول وو.

## ١ خلافت او خليفـه

دا زمـوږ د موضـوع اصلـي او مهـم ټکـی دی چـې داعـش خوارجـو ور څخـه ډېـره نـاوړه استفاده وکـړه او کـوي يـې، خپلـه خليفـه او خلافت ډېرې سپېڅلي کلمـې دي، هـر انسـان پـر ځمکـه د خـدای تعالـی خليفـه او اسـتازی دی، پـه واقعـي خلافـت کـې د اسلامـي هېوادونـو تـر منځ پولې او بريدونه له منځه ځي او يوازې اسلام به سـرحد وي.

خو ددې لپاره چې مسـلمانان خپـل دغـه سپېڅلي مـرام تـه ونـه رسـېږي، د بدناملو لپاره يـې غربـي اشـغالګرو لومـړی پـه عـراق او شـام کـې داعـش يـا پـه اصـطلاح اسلامـي دولـت رامنځتـه کـړ او بيـا يـې پـه افغانسـتان کـې د واقعـي اسلامـي امـارت د ماتولـو او کواښـلو لپـاره لـه عـراق نـه پـه تقليـد داعـش خـوارج رامنځتـه کـړل چـې تـر دغـه سـپېڅلي نامـه لانـدې يـې خلـك د وحشـت او بربريـت شـاهدان دي او هېـڅ داسـې بريـا هـم نـه لري چې د خپلې لاسته راوړنې پـه توګه يې ياده کړي.

داعـش خـوارج د خلافـت تـر شـعار لانـدې اشـغالي موخـې عملـي کـوي، د مسـلمانانو تـر منـځ د پورتـه يـادو شـوو عنوانونـو پـه عملـي کولـو سـره تفرقـه او وېـش رامنځتـه کـوي، تـر څـو د مسـلمانانو زړونـو لـه خلافت او يـوه خليفـه لرلـو څخـه دومـره تـور کـړي چـې نـور يې له غوښتنې توبه کار شـي او همدا د اشـغالګرو اصلي موخه ده.

د خراسـاني خوارجـو پـه ليکـو کـې ټولـې هغـه منحوسـې او منفـورې څېـرې شـاملې دي چـې ټولنـې اسـتفراق کـړي او بيـا يـې د اشـغال لمنـې تـه پنـاه وړې ده، تـر څـو واك او امکانـات تـر لاسـه کـړي او د اسلام پـه سـر سـودا وکـړي، چـې ان شـاء الله دغـه شـوم ارمان ته هېڅکله هم نه شي رسـېدلی.

کـڼ هغـه ځوانـان چـې د خوارجـو ليکـو تـه ورغلـي، د خپلـو دروغجنـو او نقـاب پوښـه مشـرانو لـه لارې رنـګا رنـګ غـوړې وعـدې ورکـړل شـوي دي، دوی د خلکـو شـتمنۍ لوټلـې، د خلکـو لـه ابـرو او عـزت سـره يـې لوبـې کـړې او د غنميتونـو يـا لـوړو ډالـرې

معاشـونو د تـر لاسـه کـولـو لپـاره يـې د خلافت د موخـو پـه نـوم داسـې وحشـتونه تـر سـره کـړي چې بشـريت يې يادولو شرمېږي.

٢ ښـه او بد مسـلمان:

غربـي او کفـري اسـتخباراتي حلقـو د مسـلمانانو تـر منـځ د نفـاق د رامنځتـه کولـو لپـاره مسـلمانان د «ښـه او بـد» يـا ناښـه پـه ډلـو وويشـل او د دوسـتو هېوادونـو پـه نامـه يـې ځينـې را خپـل او ځينې هم تر بنديزونو او نيوکو لاندې راوستل.

هغـه مسـلمانان چـې غربـي او امريکايـي ارزښـتونو تـه يـې پـه ښـه سـترګه کتـل، پـه خرېيلـې ږيـره، نېکتايـي او نظرياتـو کـې د دوی پـه شـان وو او يـوازې نـوم يـې د مسـلمان و ښـه و، خـو د مسـلمان پـه څېـره جـوړې، محجبـې مېرمنـې او د اسلامـي شـعايرو لپـاره د ژمنـو مسـلمانانو لقـب يـې نـا مطلـوب او بـد مسـلمانان وو، چـې سـتر امتيـاز يـا بـدل يې د همغه هېواد تابعيت تر لاسـه کول وو.

٣ د خوارجـو تمويـل او فتنـې ايجـادول:

د خوارجـو رامنځتـه کـول او د فتنـو ايجـادول د سـرې او فکـري جګـړې لـه ډېـرو خطرناکـو وسـيلو څخـه ګڼـل کېـږي، چـې لـه دې لارې مسـلمانان د اسلام لـه اصلـي روح او مسـير څخـه پـه زور او رضـا منحرفـوي او د يـو لـړ رنګينـو امکاناتـو او سازشـونو لـه لارې يـې پـه خپـل دام کـې را ښـکېلوي او بيـا ورو ورو پـر اسلام دننـګ، جهـاد او استقلال روحيه په کې وژني او دې ته د ځان وژنې په سترګه ګوري.

پـه عـراق، شـام او بيـا «د خراسـان اسلام دولـت» پـه نـوم د خوارجـو رامنځتـه کـول د همدې فتنـو سـترې بېلګـې دي چـې پـه افغانسـتان کـې يـې هـم پـه ټـول ځـواك او ملاتـړ د اسلام د سـپکاوي لپـاره و درول، خـو د اسلامـي امـارت مجاهدينـو يـې نـوم او نښـان داسـې نابـود کـړی، چې خپلـه نړيوال هم په دې اقرار کوي.

٤ شـعيه او سـني:

د سـني او شـعيه پـه نامـه د مسـلمانانو تـر منـځ د بېلتـون راوسـتل او تـر منـځ يـې وسـله والـو شـخړو تـه لمـن وهـل، چـې پـروژه او تمويـل يـې د سـيمې او ګاونديـو هېوادونـو پـه غـاړه و، د سـرې جګـړې بله پروژه وه چې د داعش خوارجو پر مټ عملي کېږي.

د جمهوريـت پـر مهـال د جمهوريـت لـه ملاتـړ څخـه برخمنـو داعشـي خوارجـو پـه کابـل او نـورو ولايتونـو کـې پـر تيکـه خانـو او عبـادت ځايونـو سـخت بريدونـه وکـړل، عبـادت کوونکـي، ښـځې او ماشـومان يـې ووژل، خـو د اسلامـي امـارت پـه راتـګ سـره دا هـر څـه

ختم شول.

### ۴ تندلاري او منځلاري مسـلمان:

د افراطـي يـا پـه اصـطلاح د تنـدلارو او منـځ لارو مسـلمانانو رامنځتـه کـول د خارجـي فتنـې او اشـغال بلـه سـتره وسـيله وه، چـې تـر دننـه د مدنـي نهادونـو، کوندونـو او ډلـو پـه ايجادولـو سـره واقعـي او هغـو مسـلمانانو تـه چـې پـه خپـل ديـن او ارزښـتونو ننـګ کـوي تنـد لاري او هغـوی چـې يـوازې تـر دعـا او مانځـه پـورې محـدود وي، پـه سياسـت او د اسلامـي تولنـې پـه رغبښـت او سـاتنه کـې لاس ونـه وهـي، د منـځلاري مسـلمان پـه سـترګه ګـوري چـې دا فتنـه د غربـي او شـرقي مسـلمان تـر منـځ د ټکـر پـه يـوه سـتره وسله اوښتې ده.

### ۵ د عدم تشـدد پر نظريه ولاړ اسلام:

کـه څـه هـم اشـغالګر او د سـرې جګـړې مختـه وړونکـي خوارجـو تـه د فزيکـي چلنـد، شـخړو او جګـړو لپاره هـر ډول پوځـي او د تشـدد امکانـات ورکـوي، د کرايـي قاتلانـو پـه توګـه يـې کاروي، خـو بلـې خـوا تـه بيـا د عـدم تشـدد فلسـفه غـږوي او برحـق جهـاد تـه د تشـدد پـه سـترګه ګـوري چـې دوی تـه د منلـو وړ نـه دی، ځکـه پوهېږي چـې د اسلامـي هېوادونـو د خپلواکـۍ او واقعـي اسلامـي نظـام د حاکميـت تـر تولـو غـوره لار جهاد او وسـله واله مبارزه ده، تر څو د يرغلګـرو خولې ماتې کړي.

### ۶ متمـدن او عصـري اسلام:

پـه اروپـا کـې پـه شپاړسـمه پېړۍ کـې د رنسـانس لـه رامنځتـه کېـدو سـره دا نظريـه مطـرح شـوه چـې ديـن او سياسـت بايـد سـره جلا وي، عيسـويت او سياسـت بايـد جلا شـوی وی، ځکـه چـې دا منسـوخ ديـن دومـره تحريـف او بـدل شـوی و چـې اصلـي لار يـې لـه تولـو هېره وه.

غـرب پرمختـګ وکـړ او لـه بـده مرغـه چـې ځينـو مسـلمانو رهبرانـو هـم د اسلام او سياسـت د جلا کولـو نظريـې وړانـدې کـړې چـې لـه يـوې مخـې باطلـې وې، ځکـه چـې اسلام پـه هـر وخـت کـې يـو معقـول او پـه معنـوي ارزښـتونو ولاړ عالـي سياسـت دی. دوی هغـه مسـلمانان متمـدن وبلـل چـې د جمهـوري نظامونـو او غربـي ټکنالـوژۍ تـر اغېـز لانـدې يـې خپل حکـومتونه د فرضـي ټاکنو له لارې جوړول.

# داعش په ورکېدو دی!

ليکـوال: بهير افغان

پـه ننـنـۍ نـړۍ‌کـې، افراطـي ډلـې لکـه داعـش د اسلامـي هېوادونـو، پـه ځانګـړې توګـه د افغانسـتان اسلامـي امـارت لپـاره، ګـواښ ګـڼـل کېـږي، دا ډلـه چـې د اسلام د ځانګـړي تفسـير پـر بنسـټ د ځان‌خوښـي خلافـت جوړولـو هڅـه کـوي، غـواړي چـې د تاوتريخوالـي او ترهګـرۍ لـه لارې پـه بېلابېلـو سـيمو کـې خپـل مشـروعيت تثبيـت کـړي.

افغانسـتان، چـې پـه دې وروسـتيو کلونـو کـې د کړکېچونـو ډګـر و، د داعـش د پراخـو فعاليتونـو شـاهد پاتـې شـوی؛ خـو د اوسـني وضعيـت ارزونـه او د اسلامـي امـارت د لوړپـوړو چارواکـو څرګندونـې ښـيي چـې داعـش نـه يـوازې د افغانسـتان پـه خلکـو او حکومـت کـې ريښـه نه لري، بلکـې د دې ډلې د زوال بهير ښـکاره ده.

انـس حقانـي، څـه مـوده وړانـدې د العربيـه شـبکې سـره پـه خبـرو کـې ويلـي: داعـش پـه اسلامـي امـارت کـې هېـڅ ډول نفـوذ نـه لـري او د دې ډلـې ايډيالـوژي پـه هېـڅ ډول د اسلامي امارت غـړي نه دي اغېزمن کړي.

د هغـه خبـرې نـه يـوازې د داعـش پـه وړانـدې د اسلامـي امـارت د بريـا څرګندونـه کـوي، بلکـې د اسلامـي امـارت د مشـرتابه د هوښـيارتيا او ژمنتيـا دليـل هـم دی، د امـارت غـړي پوهېـږي چـې پـه افغانسـتان کـې د داعـش شـتون يـوازې بـې ثباتـي او ناامنـي زياتـول دي او د هېـواد او ملـت لپاره هېڅ ډول دينـي او ملي ګټه نه لري.

پـدې سـربېره، دا څرګندونـې ښـيي چـې طالبـان د افغانسـتان د واکمنانـو پـه توګـه، لـه افراطـي ايډيالوژيـو لکـه داعـش ځـان سـاتلی او هڅـه کـوي چـې پـه هېـواد کـې خپـل واک ټينـګ او امنيـت رامنځتـه کـړي، پـه دې اسـاس، داعـش د طالبانـو د واکمنـۍ پـر وړانـدې د يـوې پـردۍ او مخالفـې ډلـې پـه توګـه د افغانسـتان د حکومتـي جوړښـت پـه دننه کـې ځای نه شـي موندلی.

پـه افغانسـتان کـې د داعـش لپـاره، د ځينـو نـورو هېوادونـو پـه پرتلـه، د خلکـو پـه منـځ کـې د نفوذ کـولو لپاره جدي خنډونه موجود دي.

د دې خنډونـو څو لاملونه:

لومړی: افغانسـتان د خپـل غنـي مذهبـي او کلتـوري تاریـخ لـه املـه پـه ځانګـړو ټولنیـزو او سیاسـي تحولاتـو کـې ژوره تجربـه لـري او پـه آسـانۍ سـره د تکفیـري او تاوتریخوالـي ډك ایډیالوژیـو تـر اغېـز لانـدې نـه راځـي، د افغانسـتان خلـك پـه عمومـي توګـه پـه افراطـي ډلـو بـاور نـه لـري او لـه دې ارخـه یـې د بهرنیـو او ترهګریـزو ځواکونـو پـر وړانـدې لـه خپلو تېرو تجربو ګټه اخیستې ده.

دویـم: کـه څـه هـم داعـش هڅـه کـړې ده چـې پـه ځینـو سیمو کـې ځـان تـه ځـای وومـي، خـو د دې ډلـې د ټولنیـز مشـروعیت او د خلکـو د ملاتـړ نشـتون لـه املـه، پـه دوامـداره توګـه پـه هېـواد کـې ریښـه نـه ده ځغلولـې، حقیقـت دا دی چـې د داعـش ډېـری فعالیتونـه پـه افغانسـتان کـې د ځانمرګـو بریدونـو او محـدودو عملیاتـو پـه بڼـه ترسـره شـوي چې پایلې یې یا ناکامې شـوې، یا په چټکـۍ سـره دفع شوې دي.

دا حالـت ښـیي چـې داعـش نـه یـوازې د داخلـي ملاتـړ لـه نشـتون سـره مـخ دی، بلکـې د اسلامـي امـارت د رهبـرۍ پـه وړانـدې د دوامـدار او پـراخ ګـواښ رامنځتـه کولـو تـوان هـم نه لري.

د داعـش د زوال د چټکتیـا یو مهم عامل:

یـو لـه هغـو مهمـو عواملـو څخـه چـې د داعـش د زوال بهیـر یـې ګړنـدی کـړی، هغـه اقدامات دي چې د اسلامي امارت له خوا د دې ډلې پر وړاندې ترسـره شـوي دي.

اسلامـي امـارت پـه پرلهپسـې ډول د داعـش پـر ضـد پـه بېلابېلـو سـیمو کـې نظامـي او امنیتـي عملیـات ترسـره کـړي، دا عملیـات د دې سـبب شـوي دي چـې د داعـش عملـي ځـواك کمـزوری شـي او د دې ډلـې فعالـې شـبکې لـه منځـه لاړې شـي، لـه دې سـره، اسلامـي امـارت پـه هېـواد کـې د واك او ځـواك ښـه مدیریـت لـه لارې د داعـش فعالیتونـه محـدود کـړي او په ډېرى مواردو کـې یې له منځه وړي دي.

دا ښـیي چـې اوسمهـال داعـش نـه یـوازې د افغانسـتان پـه حکومتـي جوړښـت کـې نفـوذ نـه لـري، بلکـې د دې ډلـې ګواښـونه پـه لـوړه کچـه کـم شـوي او د دې ډلـې راتلونکـی په افغانسـتان کې ډېر تیاره ښـکاري.

پـه پـای کـې ویلای شـو چـې داعـش پـه افغانسـتان کـې ژورې ریښـې نـه لـري او یـوازې یـو لنډمهالـه ګـواښ دی چـې د ولـس د ملاتـړ نشـتون او د طالبانـو د امنیتـي تدابیـرو پـه نتیجـه کـې پـه زوال کـې دی، کـه څـه هـم دغـه ډلـه پـه ځینـو وختونـو کـې

توانېدلـې ده چـې تروریسـتي بریدونـه وکـړي، خـو د دې لپـاره چـې هېـڅ دول ټولنیـز مشـروعیت او ولسـي ملاتړ نه لري، په افغانسـتان کې د دوام وړتیا نه لري.
اسلامـي امـارت د خپلـې هوښـیارتیا او امنیتـي تدابیـرو پـه مـټ نـه یـوازې د داعـش پـر وړانـدې مقابلـه کـړې، بلکـې پـه هېـواد کـې د ثبـات پـه ټینګولـو بوخـت دی، داسـې ښـکاري چـې پـه نـږدې راتلونکـي کـې بـه داعـش پـه بشـپړ دول د افغانسـتان لـه سیاسـي او امنیتي صحنې څخه محوه شي.

د افغانسـتان اسلامـي امـارت زړورو مجاهدینـو او ځانګـړو کوماندویـي ځواکونـو پـه پېچلـو او دقیقـو عملیاتـو کـې د داعشـي خوارجـو دلـه سـخته ځپلـې او ګـڼ شـمېر مشـران، مسـؤلین او جنګیالـي یـې لـه منځـه وړې دي. د دوی د رټـل شـویو او بـې سـازمانه کېـدو لـه املـه، داعـش خپـل اغیـز او پراخوالـی لـه لاسـه ورکـړی او د خپلـو فاسـدو او ترهګـرو اهدافـو پـه وړانـدې یـې مقاومـت ټیـټ شـوی دی. د جهادي او اسلامـي ځواکونـو پیـاوړې مبـارزه بـه په راتلونکې کې هم د داعش د بشـپړې ماتې سـبب وګرځي،
ان شـاء اللّه تعالی.

# د جهادي غورځنګونو په وړاندې د داعش افراطي دریځ

**لیکـوال: عبود بلخي**

داعـش د نړیوالـو جهـادي غورځنګـونـو پـه وړانـدې باطـل او افراطـي دریـځ لـري او ډېری جهـادي ډلـې منحرفـې او د کافـرو دوسـتان یـادوي، دوی د اسلامـي امـارت، جبهـۃ النصـر، قاعـدة الجهـاد، حمـاس، الشـباب، انصـار الاسلام او تحریـك طالبـان پاکسـتان پـه وړانـدې د خپـل افراطي فکر په اسـاس جګړه روا او د مجاهدینو وژل مشـروع کڼي.
مـوږ دلتـه د داعشـي خوارجـو هغـه ادعـاوې پـه لنـډه توګـه بیانـوو د کومـو ادعـاوو پـر بنسـټ چې دوی له مجاهدینو سـره په جګړه کې ښـکېل دي.

## ۱ د اسلامـي امـارت پـر وړاندې دریځ:

د داعـش پـه وینـا اسلامـي امـارت پـه افغانسـتان کـې د یـو ملـي حکومـت پـه جوړولـو تېنـګار کـوي او د داعـش د نړیـوال خلافـت پـه نـوم د وحشـت او بربریـت نظریـې تـه ژمـن نـه دي، ځکـه يې په وړانـدې جګړه کول واجب او د داعش زمه واري ده.
پـه داسـې حـال کـې چـې اسلامـي امـارت پـه لومړیـو کـې هـم د شـر او فسـاد پـه وړانـدې صادقانـه جګـړه وکـړه، هیـواد یـې لـه تجزیـې وژغـوره، زورواکـی او سـرزوری یـې ختمـې کـړې، امنیـت یـې تأمیـن کـړ او بشـپړ اسلامـي نظـام یـې تأسـیس کـړ او لـه هغـې وروسـته یـې هـم د اشـغال پـه وړانـدې شـل کالـه جهـاد وکـړ او پـه افغانسـتان کـې یـې د دوهم ځل لپاره اسلامي نظام نافذ او بشپړ امنیت تأمین کړ.

## ۲ د القاعـده پـه وړانـدې دریځ:

داعـش خپـل سـازمان یوازینـی مشـروع اسلامـي خلافـت بولـي او ادعـا کـوي چـې ټـول مسـلمانان بایـد لـه دوی سـره بیعـت وکـړي، دوی القاعـده تـه پـه دې نظـر ګـوري چـې ګویـا د خلافـت د جوړولـو اصلـي هـدف تـه وفـادار نـه دي او یـوازې پـه محـدودو سیمو کـې فعالیـت کـوي، پـه داسـې حـال کـې چـې داعـش پـه نړیـوال خلافـت ټینـګار کوي.
دغـه راز د القاعـده تـګلاره "نرمـه" ګڼـي او هغـوی بانـدې نیوکـه کـوي چـې ګویـا دوی لـه کفـري هېوادونـو سـره اړیکـې جـوړوي او پـه سیاسـي او اوږدمهالـه مبـارزه بـاور

لـري، القاعـده لـه بريدونـو مخکـې د عامـو مسـلمانانو ملاتـړ تـه ډېـر ارزښـت ورکـوي، خـو داعـش پـر دې بـاوري دی چې يـوازې تاوتريخوالـی او فزيکـي جګـړه بايـد لومړيتـوب وي، پرتـه لـه دې چې د عامو مسـلمانانو ملاتړ ته پام وکړي.

پـه داسـې حـال کـې چـې القاعـده د نړيـوال جهـاد لپـاره د مسـلمانانو د ويښـولو او لـه کفـري ځواکونـو څخه د اسلامي سيمو د دفاع لپاره يو مهم غورځنګ ثابت شـوی.

**۳ د جبهة النصـر يـا تحرير الشـام په وړاندې دريځ:**

جبهـة النصـر چـې پـه اصـل کـې د القاعـده يـوه څانګـه وه، دوی پـه سـوريه کـې لـه محلـي ډلـې او خلکـو سـره کـډ کـار تـه ترجيـح ورکـوي او د سـوريې جګـړه د خپـل محلـي جهـاد پـه توګـه مشـروع ګڼـي، د داعـش نړيـوال خلافـت تـه د يـوې اسـتخباراتي پروژې په سـترګه ګوري او د سـيمه ييزو خلکو ملاتړ ته ارزښـت ورکوي.

دوی هڅـه کـوي چـې د خپلـو کړنـو لـه لارې د سـوريې خلکـو او نـورو اسلامـي ډلـو ملاتـړ تـر لاسـه کـړي، ليکـن پـه مقابـل کـې يـې داعـش د عامـو خلکـو ملاتـړ تـه ډېـر پـام نـه کـوي او پـه تاوتريخوالـي او سـخت دريځـی بانـدې ټينـګار لـري، لـه همـدې املـه جبهـة النصـر يـا تحريـر الشـام د نرمـې لارې پيـروان بولـي، د هغـوی سياسـي کړنـې او محلـي تړونونـه غندي او په وړاندې يـې جګړه جهاد ګڼي.

پـه داسـې حـال کـې چـې تحريـر الشـام د خپلـې خـاورې د آزادۍ او اسلامـي نظـام د اقامـې په لار کې تر اکثريت جهادي غورځنګونه ښـه ثابت شـوي.

**۴ د حمـاس جهـادي غورځنـګ پـه وړاندې دريځ:**

د داعـش پـه انـد حمـاس يـوه تروريسـتي ډلـه او لـه اسلام څخـه لـرې غورځنـګ دی او حکومتولـي يـې د اسلام لـه کامـل ديـن سـره اړخ نـه لـري، دوی لـه حمـاس جهـادي غورځنـګ سـره خپـل مخالفـت آن تقريبـاً لـه ۲۰۱۵ م کال څخـه هغـه مهـال را پيـل کـړ، کلـه چـې داعشـيانو پـه غـزه کـې د څـو حمـاس پلـوو کسـانو سـرونه پـرې کـړل او ويـې ويل چې دوی له "اصلي اسلام" څخه اوښـتي دي.

**۵ د تحريـک طالبـان پاکسـتان پـه وړاندې دريځ:**

د داعـش او تحريـک طالبـان پاکسـتان (TTP) تـر منـځ اړيکـې ډېـرې وختونـه د تضـاد او دښـمنۍ پـر بنسـټ ولاړې دي، داعـش د تحريـک طالبـان پـه څېـر ډلـه پـه اسلامـي نـړۍ کـې د خپـل کنتـرول او نفـوذ لپـاره يـوه سـياله ډلـه ګڼـي او هڅـه کـوي چـې خپلـه نظريـه او خپل نظام په سـيمه کې پراخ کړي.

دوی (داعشـيان) خپـل ځانونـه د نړيـوال خلافـت پـه توګـه پېژنـي او د يـوه نړيـوال اسلامـي حکومـت د جوړولـو ادعـا کـوي، برعکـس تحريـك طالبـان پاکسـتا پـه ځانګـړي ډول پـه پاکسـتان کـې د اسلامـي حکومـت د جوړولـو لپـاره مبـارزه کـوي او د ملـي موخـو لپـاره فعاليـت کـوي، دا توپيـر د دواړو ډلـو ترمنـځ بنسـټيز نظرياتـي تضـاد رامنځتـه کـوي، ځکـه چـې داعـش يـوازې خپلـه نظريـه برحقـه ګڼـي او نـورې ډلې کمـزورې او منحرفه بولي.

## ۶ د الشـباب په وړاندې د داعش دريځ:

داعـش او الشـباب د يـوه او بـل پـه وړانـدې سـيالانه دريـځ لـري، الشـباب چـې پـه سوماليـا او ختيځـه افريقـا کـې فعالـه ډلـه ده د القاعـده سـره تـړاو لـري، پـه داسـې حـال کـې چـې داعـش ځـان د يـو نړيـوال خلافـت غوښـتونکـي ګڼـي او غـواړي چـې ټولـې اسلامـي ډلـې تـر خپلې ولکې لاندې راولي.

الشـباب د القاعـده سـره بيعـت کـړی او د هغـوی پـه عقايـدو او لارښـوونو عمـل کـوي، پـه داسـې حـال کـې چـې داعـش لـه القاعـده سـره ښـخوانـی او ښـخه دښـمني لـري او غـواړي چـې الشـباب يـې د خلافـت برخـه وګـرځـي، دغـه راز داعـش پـه افريقـا کـې د خپـل نفـوذ د پراخولـو لپـاره هڅـې کـوي او غـواړي تـر څـو پـه الشـباب بانـدې فشـار راولـي چـې د دوی بيعـت ومنـي. ليکـن الشـباب د خپلـې خپلواکـۍ سـاتلو تـه ژمنـه ده، د داعـش د نفـوذ او د خلافـت د پراخولو پر وړاندې جدي ولاړه ده.

## ۷ د انصـار الاسلام پـه وړانـدې د داعش دريځ:

داعـش او انصـار الاسلام يـو د بـل سـيالان ګڼـل کېـږي او دا سـيالي پـه ځانګـړي ډول لـه هغـه وخـت راهيسـې زياتـه شـوه، کلـه چـې داعـش پـه ۲۰۱٤ مـېلادي کـال کـې پـه عـراق او سـوريه کـې خلافـت اعلان کـړ، لـه هغـې راهيسـې داعـش هڅـه وکـړه چـې ټولـې جهـادي ډلـې د خپـل جعلـي خلافـت تـر چتـر لانـدې راولـي، خـو انصـار الاسلام د دوی بيعـت او کنتـرول رد کـړ او خپله خپلواکي يې وسـاتله.

داعـش غوښـتل تـر څـو ټولـې جهـادي ډلـې د خپـل جعلـي خلافـت برخـه وګـرځـوي، پـه داسـې حـال کـې چـې انصـار الاسلام د خپلـواك فعاليـت او سـيمه‌ييزو اهدافـو تـه ژمنـه پاتـې ده او د داعـش د خلافـت د مشـروعيت ادعـا نـه منـي او ځـان خپلواکـه اسلامـي ډلـه ګڼي.

دغـه راز داعـش يـو سـخت افراطـي دريـځ لـري او د جهـاد لپـاره يـې پـه زياتـره مـواردو کـې

بـې رحمانـه تاکتیکونـه غـوره کـړي، پـه داسـې حـال کـې چـې انصـار الاسلام د دې سـخت او فراطـي دريـځ مخالفـت کـوي او غـواړي تـر څـو نـرم او د اسلامـي اصولـو مطابـق دريځ غوره کړي.

پـه ټولـه کـې داعـش يـوه خارجـي او افراطـي ډلـه ده، د مسـلمانانو لـه وژلـو پرتـه بـل هېـڅ کـار هـم نـه لـري، پـه مسـاجد، مکاتبـو، مدارسـو، بازارونـو او هوټلونـو کـې ملکـي خلـك هـدف ګرځوي او مالي منابع او ملاتړ يې موسـاد، CIA او ISI کوي.

د جهـادي غورځنګونـو پـه وړانـدې د داعشـي خوارجـو افراطـي دريـځ خـورا سـخت او منفـي دی. داعشـي خـوارج خپـل ځـان د يوازينـي حقيقـي اسلامـي حکومـت پـه توګـه کنـي او نـورې جهـادي ډلـې د کافرانـو ملګـري، مرتديـن، مشـرکين او بدعتيـان بولـي. دوی د اختلافاتـو پـر ځـای تاوتريخوالـی غـوره کـوي او هـر هغـه څـوك چـې ورسـره مخالفـت کـوي، پـه سـختۍ سـره يـې لـه منځـه وړي. دغـه افراطـي نظريـه د جهـادي غورځنګونـو ترمنـځ د يووالـي پـر ځـای د دښـمنۍ او خونړيـو جګـړو سـبب شـوې ده، چـې لـه املـه يـې د اسلامـي او جهـادي حرکتونو اغېزمنـه مبارزه ځنډېدلې

او زيانمنه شوې ده.

# داعش د استخباراتي سازمانونو استازي

**ليکوال: راشد شفيق**

د تېرو څو کلونو راهيسې د اسلامي امت يوه لويه ننګونه د ځوان نسل فکري انحراف دی، چې د اسلامي خلافت يا داعش تر نامه لاندې ترسره کېږي، په حقيقت کې، د اسلامي امت د حوادثو او بحرانونو زياتوالی د دې لامل شو چې استخباراتي ادارو خپلې شومې موخې يو په بل پسې د مسلمانانو د ديني ارزښتونو پر وړاندې عملي کړي.

د خپلو روزل شويو خلکو په وسيله د مسلمه امت ځوانان د اسلامي خلافت (داعش) تر چتر لاندې تېرباسي، دغه کسان د خپلې افراطي مفکورې له مخې د انسانيت او اسلاميت حقونه تر پښو لاندې کوي، پر مقدسو مذهبي ځايونو بريد او د امت مسلمه د زرورو وګړو شهادت يې خپل کار ګرځولی دی.

داعش ځان د اسلام استازي ګڼي، خو په حقيقت کې يې کړنې د اسلام د زغم او عدالت سره په ټکر کې دي، ځکه اسلام د انساني حقوقو او کرامت د ساتنې ضمانت کوي، لکه څرنګه چې الله جل جلاله په قرآن کريم کې فرمايي: ولقدکرمنا بنی آدم (بېشکه موږ د آدم اولاد ته درنښت ور کړی دی).

کله چې نبي کريم عليه الصلاة والسلام په مدينه کې اسلامي نظام جوړ کړ، نو دا نظام يې د انساني کرامت د ساتنې پر اساس جوړ کړ، دغه انساني کرامت پرته له دې چې د دين او مذهب توپير وکړي، هر انسان ته ځانګړی شوی دی.

حتی اسلام د جنګ په ميدان کې داسې قوانين وضع کړي، چې د انساني کرامت ساتنه يقيني کوي، خو بالعکس؛ داعش بې ګناه انسانان وژني، اسيران تعذيبوي او خپل وکړي د اسلامي نظام پر وړاندې جګړې ته هڅوي.

لکه څرنګه چې د مصيبتونو طوفاني پيښې له ډېره وخته په هېواد کې په چټکۍ سره تېرېدې او دا سيمه همېشه د استعماري ځواکونو د يرغلونو ښکار وه، هغه مهال چې زموږ ګران هېواد د امريکا او ناټو د ښکېلاک تر ناولو قدمونو

لانـدې و او راتلونکـی یـې لـه یـو شـمېر نامعلومـو سـتونزو سـره مـخ و، پـه دغـه وخـت کـې اسـتخباراتي ادارو د اسلامـي خلافـت (داعـش) پـه نـوم جـوړه شـوې ډلـه پـه افغانسـتان کـې فعالـه کـړه، تـر څـو لـه دې لارې هغـه افغانـان چـې پـه ظاهـره بـې وزلـه ښـکاري، د خپلو شـومو موخو ښـکار کړي.

خـو للّه الحمـد د اللّه عزوجـل پـه فضـل او د افغانانـو زړورو د قربانیـو پـه برکـت، د دوی شـومې موخـې يـو پـه بـل پسـې ناکامـې شـوې، دوی ونـه توانېـدل چـې پـه افغانسـتان کـې خپلې شـومې موخې ترسره کړي.

اوس د اسلامـي امـت ځوانـان د ديـن د احـکامـو فلسـفې تـه پـه پاملرنـه او د اسلامـي نظـام د پراخـو اړخونـو پـه ژوره څېړنـه دې حقیقـت تـه رسـېدلي، چـې داعـش د زمانـې خـوارج دي او پـه عيـن حـال کـې د استخباراتي ادارو استازي دي؛ داعـش هغـه ډلـه ده چـې د اسلامـي نظـام سـره پـه کلکـه مخالفـت لـري، دوی د خپـل تکفيـري او افراطـي فکـر پـه وسـیله، د بېلابېلـو ظالمانـه طريقـو لـه لارې غـوارې د اسلام سـپېڅلې څهـره پـه نـړۍ کـې منفوره وښيي.

اوس چـې زمـوږ پـه اسلامـي هېـواد کـې د شـهیدانو د ارمانونـو بېـړۍ د بريـا سـاحل تـه رسـېدلې، چـې دا هماغـه سرتاسـري سـوله او د شـريعت محمـدي نفـاذ دی، نـو لازمـه ده چـې د غربیانـو د نـورو شـومو موخـو د ختمولـو لپـاره علمـاء، پوهـان او فرهنګـي شـخصیتونه هانـد او کوښـښ وکـړي چـې د ځوانانـو پـه عامـه پوهـاوي او ديـن و هیـواد تـه په خدمت کـې فعاله ونډه واخلي.

دوی بايـد د تېـر تاريـخ څخـه عبـرت واخلـي او پـرې نـه ږدي چـې د اسلامـي امـت ځوانـان د اسـتعماري ډلـو ښـکار شـي او د دوی اسلامـي او شـرعي وجيبـه ده چـې د پرديـو مغرضانـه هڅـې مخکـې تـر پلـې کيـدو شـنډې کـړي، همدارنګـه نړيوالـه اسلامـي ټولنـه بايـد د داعـش پـر ضـد يـوه واحـده سـتراتيژي غـوره کـړي، يـوازې دې پـه نظامـي عملياتـو اکتفـا نـه کـوي، بلکـې د داعـش په وړانـدې دې فکـري مبارزه هم وکـړي.

# د داعش سفر؛ په عراق کې له ظهوره بیا په افغانستان کې تر ماتې پورې!

**لیکـوال: فرهاد فروتن**

کومه ډله چې د داعش په نوم یادېږي، یوه له افراطي او تاوتریخوالي څخه ډکه ډله ده چې د منځني ختیځ د کړکېچونو او بې‌ثباتیو له زړه څخه راپورته شوه، دې ډلې چې لومړی یې په عراق کې ځان ښکاره کړ، د مرکزي حکومت د کمزورتیا، سیاسي خلاوو او مذهبي، قومي کړکېچونو څخه په ګټې اخیستنې سره په چټکۍ سره پرمختګ وکړ او پراخې سیمې یې لاندې کړې.

خو د بلند اوازې غوښتنې یوازې په عراق کې محدوده پاتې نه کړل؛ بلکې ډېر ژر یې خپلې هڅې سوریې او بیا نورو سیمو، په ځانګړي ډول افغانستان او مرکزي آسیا ته پراخې کړې.

په افغانستان کې د داعش ظهور وضعیت لا پسې پیچلی کړ، دې ډلې د جمهوري نظام او د هغوی د بهرنیو ملاترو پر مهال، له بد امنیتي وضعیت، داخلي ستونزو او سیمه‌ییزو کړکېچونو څخه په ګټې اخیستنې هڅه وکړه چې ځان ته د پښې ځای پیدا کړي، داعش د خپلو ظالمانه تاکتیکونو لکه انتحاري بریدونو، ډله ییزو وژنو او وېروونکو کړنو په مرسته هڅه وکړه چې خپل شتون ثابت کړي، خو بریالی نه‌شو.

د اسلامي امارت له بیا حاکمېدو سره، داعش د پرمختګ پر ځای کمزورې شوه؛ هر ځای چې به یې سر پورته کړ، وځپل شوه او هر پلان چې به یې جوړ کړ، له منځه یوړل شو، له همدې امله دوی مجبور شول چې کاونډیو هېوادونو ته پناه یوسي او له هغه ځایه خپل تخریبي فعالیتونه یوازې د خپلو ملاترو د خوښې لپاره کله ناکله ترسره کړي.

د عراق او شام اسلامي دولت (داعش) تر نامه لاندې د دې ډلې ظهور د معاصرې نړۍ لپاره یو له لویو امنیتي او ټولنیزو ننګونو څخه و، دې ډلې په لومړیو کې د عراق په سیاسي، مذهبي او ټولنیزو خلاوو کې ځان ځواکمن کړ او بیا یې هڅه وکړه چې د پټو استخباراتي لاسونو په مرسته خپل نفوذ افغانستان ته هم وغځوي.

خـو داعـش تـه معلومـه نـه وه چـې هغـه عوامـل چـې پـه عـراق کـې د دې ډلـې د ځواکمنېـدو سـبب شـول، پـه افغانسـتان کـې ډېـر توپيـر لـري او دلتـه بـه د سـختې ماتـې سـره مـخ شـي، مـوږ بـه پـه لنـډ ډول ځينـې مـوارد يـاد کـړو او د افغانسـتان لـه وضعيت سـره به يې پرتله کړو.

**١ د دواړو هېوادونـو د مرکـزي حکومتونـو توپيـر:**

پـه عـراق کـې د مرکـزي حکومـت خلا او کمزورتيـا د داعـش د پرمختـك اصلـي لامـل و، د بعـث رژيـم د نسـکوريدو او د صـدام حسـين لـه واکـه لـرې کېـدو وروسـته، د عـراق حکومتـي جوړښـت ډېـر کمـزوری شـو، د سياسـي ډلـو تـر منـځ شـديد اختلافونـه او د پـراخ فسـاد شـتون، داسـې شـرايط برابـر کـړل چـې داعـش پـه اسـانۍ سـره د عـراق پـه مختلفو سيمو کې نفوذ وکړ.

د عـراق د حکومـت کمزورتيـا دومـره زياتـه وه چـې پـه ٢٠١٤ مـيلادي کال کـې چـې کلـه داعـش د موصـل ښـار ونيـو، د حکومتـي ځواکونـو لـه لـوري جدي مقاومـت لا ونـه شو.

خـو پـه افغانسـتان کـې د پخوانـي نظـام لـه نسـکوريدو او د اسلامـي امـارت د بيـا واکمنېـدو سـره يـو ځواکمـن مرکـزي حکومـت رامنځتـه شـو، دې حکومـت هېـواد د مختلفـو بحرانونـو څخـه د يووالـي پـه لـور سـوق کـړ او د دې خـاورې ټـول دښـمنان يـې د داعش په شمول له منځه يوړل.

اسلامـي امـارت د خپلـو اوږدمهالـو چريکـي جګـړو لـه تجربـې څخـه پـه کتـې اخيسـتنې پـه مختلفـو سـيمو کـې د کنټـرول تـوان وښـود او د نـورو ډلـو پـه توګـه ونـه وېشل شو.

**٢ د دواړو هېوادونـو د قومـي او فکـري جوړښـت توپيـر:**

پـه عـراق کـې د شـيعه او سـنيانو تـر منـځ ژور درزونـه او اختلافونـه پـه ځانګـړي ډول د امريـکا تـر يرغـل وروسـته، د اهـل سـنتو د نارضايتـی لامـل شـول، داعـش لـه دې نارضايتـی څخـه ګټه واخيسـته او ځان يې د اهل سـنتو مدافع معرفي کړ.

بـرخلاف، پـه افغانسـتان کـې د مذهبـي درزونـو وجـود نشـته. د ټولنـې لويـه برخـه سـني مسـلمانان دي، او لږکيـو تـه هـم د مذهبـي ازادۍ حـق ورکـول کېـږي، د افغانسـتان ټولنيـز جوړښـت اسلامـي دی او د اسلامـي وروروڵـی پـر اسـاس ولاړ دی، چـې د داعـش د نفـوذ مخه يې نيولې ده.

### ۳ مالي سـرچينو ته په لاسرسـي کې تويېر:

داعـش د عـراق پـه تېلـو بانـدې د کنتـرول لـه لارې پراخـې مالـي سـرچينې ترلاسـه کـړې، عـراق د نـړۍ د لويـو تېـل لرونکـو هېوادونـو څخـه دی او داعـش د خپلـو نيـول شـوو سـيمو (لکـه لـه موصـل او کرکـوك څخـه پـه ۲۰۱٤_۲۰۱٦ کلونـو کـې) د تېلـو غيرقانونـي پلور له لارې پراخې پيسـې ترلاسـه کړې.

خـو پـه افغانسـتان کـې داعـش هېـڅ داسـې سـترې مالـي سـرچينې ونـه موندلـې، د مالـي سـرچينو نشـتون د داعش لپاره په افغانسـتان کې يو له سـترو ننګونو څخه دی.

### ۴ د دوارو هېوادونـو د رسـنيز ځـواك توپير:

داعـش پـه عـراق کـې د مسـلکي تبليغاتـو لـه لارې کـن نړيـوال پلويـان جلـب کـړل، دې ډلـې د فلمونـو او رسـنيزو مـوادو پـه توليـد سـره خلکـو تـه خپـل جذابيـت وښـود، خـو پـه افغانسـتان کـې، کـه څـه هـم ځينـو اجيـرو رسـنيو د داعـش پـه اړه تبليغـات کـول، خو د دې ډلې رسـنيز لاسرسـی خورا محدود وو.

پـه ټولـه کـې، د داعـش ځواکمنتيـا پـه عـراق کـې د دې هېـواد سياسـي او ټولنيـزو شـرايطو لـه املـه وه، خـو پـه افغانسـتان کـې دغـه شـرايط بېخـي توپيـر لـري، د اسلامـي امـارت دښـمني لـه داعـش سـره، د مذهبـي درځونـو نشـتون او د مالـي محدوديتونـو شـتون د دې ډلـې د پراختيـا مخه نيولې ده.

داعـش پـه ۲۰۱٤ کـال کـې پـه عـراق کـې راپورتـه شـو او پراخـې سـيمې يـې ونيولـې، خـو د نړيوالـو او سـيمه‌ييزو ځواکونـو پـه کـډو هڅـو مـات شـو. دغـه ډلـه افغانسـتان تـه وغځېـده، خـو د اسلامـي امـارت زړورو مجاهدينـو ځانګـړو ځواکونـو پـه خپلـو پېچلـو عملياتـو کـې لـه منځـه لاړه. چـې اوس افغانسـتان د داعش له ترهګرۍ او شـريرې تکفيري فتنې پاك شـوی دی.

# دریيم فصل
# ديني او جهادي ليکنې

# د اسلامي نظام په چوکاټ کې د امر بالمعروف بارز رول !

لیکوال: عبدالمالك رحیمي

امر بالمعروف او نهی عن المنکر (نېکیو ته هڅول او له ناوړو را کرځول) د اسلامي نظام په چوکاټ کې له خورا بارز او ځواکمن رول څخه برخمن مسئولیت دی چې په مټ یې د مسلمانانو فردي او ټولنیز ژوند ته ژور بدلون او عمیقه اصلاح ور په برخه کېدای شي.

هر اسلامي حکومت په حقیقت کې د مسلمانانو د ژوند د پنځو مهمو اهدافو ساتنې ته مکلف دی چې له دین، نفس، عقل، مال او نسل څخه عبارت دي؛ که په یوه اسلامي ځواکمن حکومت کې یوازې د خلکو مالونه او ځانونه په داړمن امنیت کې وي خو دین او عقل یې متضرر شي نو د بریا پر ځای یې د هلاکت کندې ته تېل وهلي دي، له همدې امله اسلامي دولت مکلف دی چې د مسلمانانو د دیني او عقلي زوال، انحطاط او فساد مخه ډب کړي.

د اصول فقه کتابونه چې کله مأموربه شرعي اعمال د حُسن له اړخه ویشي نو وایي؛ د مأموربه اعمالو حُسن به یا لعینه (لذاته) وي او یا لغیره؛ لغیره ته د جهاد مثال وړاندې کوي چې په خپل ذات کې "تعذیب عباد الله و تخریب بلاد الله" پکې کېږي خو د بلې مهمې موخې لپاره مشروع عمل دی، یعنې جهاد په خپل ذات کې جګړه ده چې د الله تعالی بندګانو ته پکې عذاب شته او ښارونه پکې ورانېږي خو د اعلاء کلمة الله لپاره دا هرڅه مشروعیت لري.

نو چې کله جهاد د مهمو اهدافو لپاره مشروع شو؛ له بریا وروسته د مجاهد مسئولیت الله تعالی په قرآن کریم کې واضح کړی دی چې فرمایې: [الَّذِينَ ان مَّكَّنَّاهُم فِي الأَرضِ أَقَامُوا الصَّلوةَ وَ آتَوُا الزَّكَوةَ وَ أَمَرُوا بِالمَعرُوفِ وَ نَهَوا عَنِ المُنكَرِ] (الحج_٤١)

ژباړه: (کوم مؤمنان چې الله تعالی یې نصرت کوي) هغه کسان دي چې که د ځمکې په مخ یې واکمن وګرځوم لمونځ اقامه کوي، زکات اداء کوي او امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوي.

لـه پورتـه آیـت څخـه بـه اختصـاراً داسـې اسـتدلال ونیسـو چـې جهـاد د اعلاء کلمـة الله لپـاره مشـروع دی چـې پـه واك او ځـواك سـره کېـدای شـي؛ د واك وروسـته یـو الهـي مسـئولیت چـې واکمـن تـه سـپارل شـوی امـر بالمعـروف او نهـي عـن المنکـر دی، نـو کـه څـوك د امـر بالمعـروف او نهـي عـن المنکـر لـه مسـئولیت سـره پـه فکـري، عقیـدوي او عملـي لحـاظ مخالف وي د جهاد ثمره به یې دېر ژر حبطه او برباد شـي.

کـه څـه هـم ځینـې روڼ انـدي تحلیلګـران د امـر بالمعـروف او نهـي عـن المنکـر وزارت د رامنځتـه کېـدو او ثبتېـدو پـه اړه حیـران دي، خـو "الحسـبة" د اسلام پـه سیاسـي جوړښـت کـې د یـو مهـم او بنسـټیز اسـاس پـه توګـه معرفـي کېـږي، دا اداره د معـروف د نـه ترسـره کېـدو پـه صـورت کـې د ترسـره کولـو حکـم او یـا د علنـي منکراتـو د مخنیـوي لپاره اقدام کوي.

"الحسـبة" یـا د امـر بالمعـروف او نهـي عـن المنکـر وزارت پـه اسلامـي حکومـت کـې د خلکـو د څارنـې او کنټـرول یـوه اداره ده، چـې د همـدې ادارې لـه لارې د ټولنـې وګـړي او د اسلامـي حکومـت مشـران د اخلاقـي، اداري او سیاسـي فسـاد څخـه خونـدي پاتـې کېږي.

امـر بالمعـروف او نهـي عـن المنکـر کـه څـه هـم د اسلامـي حکومتونـو یـوه مهمـه دنـده بلـل کېـږي، خـو دا مسـئولیت د ټولنـې هـر فـرد تـه هـم متوجـه دی، څـو پـه خپـل وار سـره د دې دندې په ترسـره کولـو کـې برخه واخلي.

البتـه دغـه وزارت د اسلامـي لارښـوونو پـه رڼـا کـې د فعالیـت محـدوده زمینـه لـري چـې بایـد ورتـه ژمـن پاتـې شـي؛ پـه مجمـوع کـې د علنـي منکراتـو مخنیـوي تـه مکلـف دی او هېـڅ کلـه اجـازه نـه لـري چـې د اصلاح یـا د منکراتـو د مخنیـوي پـه پلمـه د خلکـو پـه پټـو رازونـو کـې مداخلـه وکـړي او یـا د هغـوی پـه شـخصي ژونـد کـې د جاسوسـۍ کولـو هڅـه وکـړي، د دوی دنـده یـوازې د علنـي منکراتـو پـه محـدود او ټاکلـي چوکاټ کې منحصره ده.

# د بهرنيو هېوادونو سره د اسلامي امارت اړيکې د اسلام په رڼا کې

ليکوال: علاء الدين شبير

په اسلامـي امـت کـې ځينـې ډلـې، لکـه داعـش، بـاور لـري چـې د بهرنيـو هېوادونـو سره هـر ډول اړيکـه يـا تعامـل نـاروا دی او د اسلامـي اصولـو خلاف دی، دا بـاور اکثـره د قـرآن، سـنت او د نبـوي سـيرت پـه اړه د ناسـم تعبيـر او پوهـې پـر اسـاس ولاړ دی، پـه دې مقالـه کـې هڅـه کـوو چـې د اسلامـي شـريعت پـه رڼـا کـې د اسلامـي امـارت د بهرنيـو اړيکو مشـروعيت، اړتيا او د دې اړيکو اهداف واضح کړو.

اسلام د نړيوالـو اړيکـو لپـاره يـو معتـدل او واضـح چـوکاټ ټاکلـی دی چـې دا چـوکاټ د سـولې، عدالـت، متقابـل احتـرام، او د مسـلمانانو د مصلحتونـو پـر بنسـټ ولاړ دی.

الله تعالـی پـه قـرآن کـريـم کـې فرمايـي: لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ أَنْ تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ. (الممتحنة: ٨)

دې آيـت کـې الله تعالـی حکـم کـوي چـې لـه هغـو غيرمسـلمانو سـره نېکـي او عدالـت وکـړئ چـې د مسـلمانانو پـر وړانـدې جګـړه نـه کـوي او د هغـوی پـه کورنيـو چارو کې لاسوهنه نه کوي.

رسـول الله ﷺ د مدينـې اسلامـي دولـت پـه وخـت کـې د نـورو قومونـو او هېوادونـو سـره اړيکې لرلې.

١ د سـولې تړونونـه: د حديبيـې تـړون يـوه ځرګنـده بېلګـه ده، چـې رسـول الله ﷺ له قريشو سره د سولې لپاره لاسليک کړ.

٢ د سـفيرانو لېـږل او د ليکونـو تبادلـه؛ رسـول الله ﷺ د هغـه وخـت واکمنانـو تـه ليکونه واستول ترڅو د اسلام پيغام ور ورسوي او د سولې پيغام ورکړي.

اسلامـي شـريعت د بالمثـل تعامـل اصـل تأييـدوي، دا د دې لپـاره دی چـې مسـلمانان خپـل مصلحتونـه خونـدي کـړي او لـه هغـو خلکـو سـره چـې جګـړه نـه کـوي، همـکاري وکړي.

اسلامـي امـارت د يـو خپلـواک اسلامـي دولـت پـه توګـه مکلـف دی چـې د خپلـو خلکـو

مـادي او معنـوي اړتيـاوې پـوره کـړي، د دې لپـاره لـه نـورو هېوادونـو سـره اړيکـې اړينـې دي، کـه دا اړيکـې پـرې شـي، نـو خلـك بـه د اقتصـادي سـتونزو، تجارتـي بنديزونـو، او نړيوال فشـارونو سـره مخ شـي، چې دا د مسـلمانانو د خير او مصلحت خلاف دي.

اسلامـي امـارت هڅـه کـوي چـې د ګاونډيـو او نړيوالـو سـره د سـولې اړيکـې ټينګـې کـړي. دا ځکـه چـې د جګـړې دوام يـوازې د مسـلمانانو وينـې تويـوي او د اسلامـي امت د پرمختـك مخـه نيسـي، د نړيوالـو سـره د اړيکـو لـه لارې اسلامـي امـارت د دې فرصـت ترلاسـه کـوي چـې د اسلام رښـتينی پيغـام نـړۍ تـه ورسـوي او هغـه غلـط فهمـي لـه منځـه يوسـي چې د اسلام په اړه شته ده.

ځينـې وايـي چـې لـه کفـارو سـره هـر ډول اړيکـه حرامـه ده، د دې پـه ځـواب کـې بايـد وويـل شـي اسلام دا اړيکـې پـه مطلـق ډول نـه دي منـع کـړي، د قـرآن او سـنتو پـه رڼـا کـې يـوازې هغـه اړيکـې منـع دي چـې د مسـلمانانو ديـن، عـزت، يـا خپلواکـي تـه زيـان ورسـوي، خـو کـه اړيکـې د مسـلمانانو د مصلحـت لپـاره وي، نـو دا نـه يـوازې جـواز لري، بلکې يو شـرعي حکم دی.

ځينـې بـاور لـري چـې د کفـارو سـره تـړون کـول د اسلامـي جهـاد سـره خيانـت دی، د دې پـه ځـواب کـې بايـد وويـل شـي چـې رسـول الله ﷺ پـه خپلـه د کفـارو سـره تړونونـه کـړي دي، لکـه د حديبيـې تـړون؛ دا تړونونـه د مسـلمانانو د مصلحـت لپـاره و، کـه تـړون د مسـلمانانو لپـاره ګټـه ولري، نو دا د جهاد او اسلامي دعوت يوه برخه ده.

ځينـې داعشـيان ادعـا کـوي چـې اسلامـي امـارت د کفـارو ملاتـړ ترلاسـه کـوي او لـه هغـوی سـره جوړجـاړی کـوي؛ پـه ځـواب کـې بايـد وويـل شـي چـې اسلامـي امـارت يـوازې هغـه اړيکـې لـري چـې د اسلامـي امـت پـه ګټـه دي، د دې اړيکـو هـدف د دې تضميـن دی چـې افغانسـتان يـو خپلـواك اسلامـي دولـت پاتـې شـي او د مسـلمانانو سـتونزې هـوارې شـي، دا اړيکې په هېڅ صورت د اسلامي اصولو خلاف نه دي.

### د اسلامـي امـارت د بهرنيو اړيکو موخې:

#### ۱ د ملي حاکميت سـاتنه:

اسلامـي امـارت هېـڅ بهرنـي هېـواد تـه اجـازه نـه ور کـوي چـې د افغانسـتان پـه کورنيـو چـارو کـې مداخله وکړي. اړيکې يوازې د متقابل احترام پر بنسټ دي.

#### ۲ اقتصـادي پرمختـك:

اسلامـي امـارت هڅـه کـوي چـې لـه نـورو هېوادونـو سـره سـوداګريزې اړيکـې جـوړې

کړي، ترڅو د خلکو اړتیاوې پوره شي او د مسـلمانانو اقتصاد پیاوړی شـي.

۳ د اسلامـي نـړۍ‌یووالـی:

اسلامـي امـارت د دې هڅـه کـوي چې د اسلامـي هېوادونـو ترمنـځ یووالـی او همـکاري رامنځته کړي.

۴ د سـولې او امنیت ټینګښـت:

اسلامـي امـارت د دې لپـاره اړیکـې سـاتي چې د افغانسـتان دننـه او بهـر د سـولې فضـا رامنځته کړي.

اسلامــي امــارت د اسلامــي شــریعت پــه رڼــا کــې خپلــې بهرنــۍ اړیکــې جــوړوي، دا اړیکـې د اسلامـي امـت د مصلحتونـو د سـاتنې، د سـولې د ټینګښـت، او د اقتصـادي پرمختـګ لپـاره دي، هغـه دلـې چې د دې اړیکـو مخالفـت کـوي، بایـد د قرآن او سنت د اصولـو پـه رڼـا کـې فکـر وکـړي او دا ومنـي چې اسلامـي شـریعت د سـولې، عدالـت، او مصلحت اصولو تـه لومړیتوب ورکوي.

اسلامــي امــارت هېــڅ دول داســې تعامــل نــه کــوي چې د اسلامــي اصولــو خلاف وي، بلکــې هــره پرېکــړه د شــریعت او د مســلمانانو د خیــر لپــاره کــوي، داعشــیانو تــه ښـایي چې د اسلامـي شـریعت پـه واقعـي معنـا ځان پوه کـړي او لـه هغـه هـر دول عملـه ځـان وسـاتي چې د مسـلمانانو د وېش او کمـزوري لامـل کرځـي، د وخـت اړتیـا ده چې ټول مسـلمانان یو موټی شـي او د امت د کټو لپاره په ګډه کار وکړي.

# رسول الله ﷺ په څنګه وخت کې نړۍ ته راغی؟

ليکوال: حسـان مجاهد

په عربو کې د اسلام نه وړاندې ډېر مذهبونه موجود وو، ځينې په دې عقيده وو چې هر څه د زمانې يافطرت پيدا دي او خدای تعالی هيڅ شی نه دی (العياذ بالله)
ځينو به د بتانو عبادت په دې نيت کاوه چې الله تعالی ته مو نږدې کوي. ثقيف قبيلې په طائف کې د (لات) بت، قريشو په مکه معظمه کې د (عزا) بت، أوس او خزرج په مدينه منوره کې د (منات) بت عبادت کاوه.
انسانان به د بتانو په نوم قرباني کيدو، د پلار نکاح کړل شوې ښځې به زامنو ته په ميراث پاتې کيدلې، د خپلو سکه خويندو سره نکاح روا وه، د ښځو او ودونو لپاره تاکلې اندازه نه وه، زنا او شراب خوريو په ټول مملکت کې عموميت درلود، بې حيايي او فحاشي تر دې کچې عامه شوې وه چې تر ټولو نامتو شاعر او شهزاده امرء القيس په خپله يوه قصيده کې له خپلې تروزۍ سره د زنا کيسه ډېره په خوند بيانوي او بيا يې د کعبې شريفې په دروازه را ځوړندوي.
د جادو کسب هم وده کړې وه او ډيرو جادوګرانو به د شيطان د دوستۍ لپاره رياضتونه کاوه.

١ بدپالي:

عربو په جاهليت کې ډېر شيان په بدپالي نيولي وو، کارغه يې د بېلتانه لامل ګڼلو، کونګی انسان يې هم ډېر بد ګڼلو او په آند يې، د کونګي له اواز څخه مرګ او ورانی پيدا کېږي، همداراز پرنجی يې هم په بدپالي نيولی و.

٢ جنګونه او بدی:

په عربي جاهليت کې به د وړو خبرو په سر جنګونه نښتل او جنګونه به له يوځل رامنځته کيدو وروسته تر اوږدو زمانو پورې غځيدو. که د جنګونو لاملونه وپلټل شي؛ نو هيڅ به داسي جنګ ونه موندل شي چې د کوم معقول او مهم سبب په وجه رامنځته شوی وي، هيڅ يو قوم يا هيواد په جنګ کې کومه ښيرازي لاسته نه ده راوړې او په جنګونو کې له تباهۍ او بربادۍ پرته له بل څه سره نه دي مخ

شـوي. خلاصـه دا چـې د جنګونـو مينـه زياتـه وه او پـه جنګ کـې د مهارت ښښتن د قدر وړ و، جنګـې اسـبابو تـه زياتـه پاملرنـه کيـده همـدا لامـل و چـې پـه عربـي ژبـه کـې د آسـونو او تورو نومونه تر زرو ياديږي.

### ۳ عاشـقۍ او ناروا مينې:

پـه عربـي جاهليت کـې لـه سـړو څخـه د ښځو د حجـاب هيڅ اهتمـام نـه کيـده او ښځې بـه د پرديـو نارينـه وو پـه وړانـدي پـه آزاده توګـه ګرځيدلـې، لـه دې املـه د ښځو او نارينـه وو تـر منځ نـاروا مينـې او عشـق بـازۍ پـه پراخـه پيمانـه وجـود درلـود، هغـه کـس تـه بـه پـه نـه سـترګه کيـدل چـې هيڅکلـه بـه پـه کومـه ښځه عاشـق شـوی نـه وو، عاشـقي دومـره د فخـر خبـر ګرځيدلـې وه چـې ځينيـو قبيلـو د عاشـقي لـه املـه د شـهرت نـوم لرل لکه بني عذره قبيله.

### ۴ د ژونديو لوښو ښښول:

پـه قريشـو او بنـي تميـم قبيلـو کـې د ژونديـو لوڼـو ښښـول ډيـر زيـات وو، هغـوی دا کار د ځـان لپـاره يـو ويـاړ بالـه او د ژونديـو لوڼـو پـه ښښـولو کـې سـخت زړيتـوب دې حد تـه رسـيدلی وو چـې کلـه بـه نجلـۍ د پنځـه شـپږ کالـه شـوه، نـو ښايسـته جامـې بـه يـې ور پـه تـن کـړې او پـه يـوه بهانـه بـه يـې لـه کـوره بهـر ويسـتله، بـې رحمـه پلار بـه يـې وختـي لا يـو کوهـی جـوړ کـړی وو، نجلـۍ بـه يـې د شـا لـه لـوري کوهـي تـه ور تېـل وهلـه، هغـې ناچـارې بـه پـه چيغـو چيغـو لـه پلاره مرسـته غوښته خـو ظالـم پلار بـه لـه شـا خـاوري پسـې ور تـوی کـړې، کوهـی بـه يـې لـه ځمکـې سـره برابـر هـوار کـړ او کلـي تـه بـه راسـتون شـو. د عربـو پـه ځينـو قبيلـو کـې دغـه نـاوړه عمـل لـږ وو خـو پـه ځينـو نـورو کـې بيـا زيـات وو، د بنـي تميـم قبيلـې يـو تـن قيـس بـن عاصـم خپلـې لـس لوڼې ژوندۍ ښښـې کړې وې.

### ۵ لـوټ مـاري:

تـر اسلام وړانـدي پـه ښـاري خلکـو کـې کـه لـه يـوې خـوا د ګاونـډي د حقوقـو خيـال سـاتل کيـده، خـو لـه بلـې خـوا پـه کـې د چـل او فريـب خويونـه هـم موجـود وو، او هغـه خلـك چـې پـه دښـتو بـه يـې د کوچيتـوب زندګـي کولـه؛ پـه لـوټ مـاري او انسـان زوورونـه کـې پرمـخ وو، کـه بـه يـې يـوازي سـړی وليـدل؛ نـو مـال بـه يـې سمدسـتي تـرې اخيسـتل او هغـه سـړی بـه يـې د غلام پـه څېـر پلـورل، پـه دښـتو کـې بـه يـې د اوبـو ځاګانـې لـه مسـافرو څخـه پـه وښـو کـې پټـې کـړې وې؛ تـر څـو مسـافر د اوبـو پـه نـه

شـتون كـې لـه تنـدي ومـري او مالونـه يـې لوټمارانـو تـه پـه لاس ورشـي، ځينـي خلـك پـه غلا او انسـان ربړونـه كـې تـردې كچـې روزل شـوي او مشـهور شـوي وو چـې پـه ذوبـان العرب ( د عربو په شـرمخانو سـره يادېده )

### ۶ د جاهليـت د زمانـې دودنـه:

كلـه چـې بـه كـوم كـس ومـړ؛ نـو د هغـه مـړي اوښـه بـه يـې دقبـر څنـګ تـه وتړلـه، يـا بـه يـې سـتركې ور بنـدي كـړې، يـا بـه يـې سـر لـه سـينې سـره ور وتـړل او اوښـه بـه يـې پـه هـم دغـه ځوروونكـي حالـت كـې پرېښـوده تـر هغـه وختـه چـې دلتـه بـه مـړه شـوه او دا كـار يـې پـه دې عقيـده كـاوه چـې لـه مركـه وروسـته د بيـا ژونـدي كيـدو پرمهـال بـه دغـه سـړی په همدې اوښه سپور روانيږي.

هغـوی پـه دې عقيـده وو چـې كلـه بـه يـو څـوك كـوم ښـار تـه دننـه شـو او هلتـه بـه ورتـه دوبـاره د مـرض خطـر موجـود وو، نـو هغـه سـړی بـه د ښـار پـه دروازه كـې ودريـدو او د خـره پـه څېر به يې وانګولل تر څو دی د وبا له مرضه وژغورل شـي.

كلـه چـې بـه د چـا اوښـان تـر زرو واوښـتو نـو سـاندا اوښ تـه بـه يـې سـتركې ور ويسـتلې او خوشـی به يې كړ، تر څو د نورو اوښـانو له نظره وژغورل شـي.

كـه بـه پـه يـو اوښ د خـارښ مـرض ولګيـدو، نـو د نـاروغ اوښ پـه ځـای بـه يـې روغ اوښ تـه داغ وركـاوو؛ ځكـه دوی پـه دې عقيـده وو چـې د روغ اوښ لـه كبلـه نـاروغ اوښ هـم رغيږي.

كلـه چـې بـه كـوم غوايـي اوبـه نـه څښـلې، نـو ټـول غوايـان بـه يـې وهـل، دوی پـه دې بـاور وو چـې پيريـان پـه غواګانـو ناسـت دي او غواګانـې لـه اوبـو څښـلو څخـه منعـه كوي.

كلـه چـې بـه څـوك پـه سـفر روانيـدو؛ نـو د "ارتـم" پـه نامـه نـری لښـتې تـه بـه يـې غوټـه ور واچولـه، كلـه چـې بـه لـه سـفره راسـتون شـو، كـه بـه غوټـه پـه خپـل حـال پاتـې وه؛ نـو ددوی پـه عقيـده ښـځه بـه يـې پـاك لمنـه وه او كـه بـه غوټـه خلاصـه شـوې وه؛ نـو ښـځې به يې د خاوند په نه شـتون كې له پردي سـړي سره بدكاري كړې وه.

پـه يـو تېـر كـش كـې بـه يـې درې غشـي اچولـي وو، پـه يـوه غيشـي بانـدي "لا" او پـه بـل بـه"نعـم" ليكلـي وو، كلـه چـې بـه يـې يـو كـار تـه اراده وكـړه نـو تېـر كـش تـه بـه يـې لاس دننـه كـړ، كـه بـه د "نعـم" والا غيشـی راووت، نـو هغـه كـار بـه مثبـت وو او ترسـره كـول بـه يـې او كـه بـه د "لا" والا غيشـی راووت، نـو هغـه كـار بـه منفـي وو او

پرېښود به يې.
دوی دا عقیـده هـم درلـوده چې کـه د مقتـول قصـاص لـه قاتـل څخـه وانـه خیسـتل شــي؛ نـو د مقتـول لـه كـوپړۍ څخـه د "هامـه" پـه نامـه يـو مرغـی را وزي او د انتقـام تـر اخیسـتلو پـورې کـرځـي او چيغي وهي چې ماته اوبـه را کړئ ماته اوبه راکړئ.
ددوی پـه عقيـده د هـر انسـان پـه نـس کـې يـو مـار ژونـد کـوي، کلـه چې دغـه مـار وږی شــي نو د انسان له پښتيو څخه خوراك شروع کړي.
دوی دا عقیـده هـم درلـوده چې کـه د کومـې ښـځې اولاد مـړ کیـږي، نـو دغـه ښـځه کـه د يو مړ انسـان په جسـد ښـه ډېره وخيژي راوخيژي نو اولاد به يې نه مري.
کلـه چې انسـانان پـه جهالـت کـې تـردې حـده ډوب شـوي وو او هـر لـوري تـه د فتنـو او فسـادونو بـازار کـرم وو؛ نـو پـه داسـي وخـت کـې د زمانـې بـودۍ هـم د يـو چـا د ظهـور لپـاره کـرږونـه کـرږونـه کـاله انتظار کړی و.
د اسـمان سـتورو هـم لـه ازلـه ددې ورځـي پـه مینـه کـې د انتظـار سـترکې لاري تـه نیولـې وې. اسـمان هـم لـه مـودو مـودو ددې روح پالونکـي سـهار پـه تمـه او امیـد شـپه او ورځ سرګردان و.
د قضـا او قـدر د كـاركوونكـو ښايسـته مجلسـونه، د عناصـرو رنګينـې، د لمـر او سـپوږمۍ نـور شـیندنه، د وریځـو او بادونـو منـدې تـرړې، د إبراهيـم (علیـه السـلام) توحيـد، د يوسـف (عليـه السلام) جمـال، د موسـى (علیـه السـلام) معجـزې او د عیسـی (علیـه السـلام) پوکـی دا هـر څـه ددې لپـاره وو چې دا کـران او قیمتـي شـیان بـه د سـردار دو جهان په دربـار او خدمت کې په کار راځي.
هوکـې! هغـه يـو ورځ وه چې د کسـری مانـۍ چپـه شـوې، د فـارس آتـش کـده مـړه شـوه، د عجمـو شـان، د رومیانـو شـوکت او د چیـن جګـې مانـۍ را نسـکورې شـوې، د ګمراهيـو اورونـه مـړه شـو، لـه بتخانـو څخـه دوړې پورتـه شـوې، د مجوسـيت کوشـېر مـات شـو، د نصرانيـت خـزان وهلـې پاڼـې ور ژیـدې، دنیکمرغـۍ پـه بـاغ پسـرلی راغـی، د توحيـد ازانګـه پورتـه شـوه، د هدايـت لمـر پـه هـر لـور وړانګـي وغځولې. او د انسـاني اخلاقـو پـه هنـداره قدسـي نـور وځليـدو يعنـي د عبـد الله يتيـم، د آمنـې بـي بـي د زړه ټوټـه، د حـرم بادشـاه، د عربـو واكمـن، د كـونينـو سـردار د ربيع الأول پـه (نهمـه يـا پـه دوولسـمه نېټه) ددوشنبې په ورځ دنیا ته تشريف راووړ.
يادونـه: بایـد وویـل شـي چې د رسـول الله ﷺ پیدایښـت پـه ټولـو انسـانانو بانـدي د الله

تعالــى يــو ســتر نعمــت دى اوتولــو بدمرغيــو تــه د پــاى ټكــى دى، ددغــه ســتر نعمــت شــكر پــه مورړ تولــو واجــب دى او شــكر يــې يــوازي د مــيلاد النبــي ﷺ جلســې، غونــډې، خيراتونــه او صدقــې نــه دي، بلكــې پــه ځـاى شــكر يــې دادى چــې د رســول الله ﷺ دســنتو اتبــاع وشــي، د رســول الله ﷺ هغــه ديــن چــې نــن ورځ غريــب ګرځيدلــى ده او لــه هــر لــوري وربانــدي حملــې شــروع دي؛ بايــد خدمــت او اشــاعت يــې وشــي او دفــاع تــرې وشــي او هغــه د جاهليــت د زمانــې بدعتونــه او منكــرات چــې پــه دې زمانــه كــې راڅرګنــد شــوي دي او مــخ پــر وده روان دي؛ پــه ورانــدي يــې بايــد مبــارزه وشــي او پــه ټولــه نــړۍ داســي رښــتنى اسلام حاكــم شــي لكــه د رســول الله ﷺ پــه زمانــه كــې چــې حاكــم وو او يــو ځـل بيــا نبوي دور تكـرار شـي.

رســول اللــه ﷺ پــه داســې زمانــه كــې نــړۍ تــه راغــى چــې ظلــم، جهلــت او بــې عدالتــي خپــرې وې، خلــك د بتانــو عبــادت كــاوه او انســاني ارزښــتونه يــې هېــر كــړي وو. هغــه د اللــه د رحمــت پيغــام راوړونكــى و، چــې د حــق لار يــې خلكــو تــه ښــووله، ظلــم يــې ختمــاوه او د ســولې، عدالــت او مينــې پيغــام يــې خپــور كــړ. د هغــه تعليمــات د انســانانو زړونــه روښــانه كــړل او د نــړۍ تاريــخ يــې د بدلون په لور واړاوه.

# اسلامي أمت پر کومه روان دی !؟

لیکوال: سعید انصار

د نړۍ دجالو اشغالګرو کفارو له سلو کلنو را په دېخوا له نوي تاکتیك نه کار اخیستی او ټوله اسلامي نړۍ یې یو له بل سره په جګړو اخته کړې ده، د ځمکې په کره کې د موجودو نږدې ۵۷ اسلامي هېوادونو ټول یو له بل سره په کورني، کاونډیتوب او یا اشغالي دفاعي او تعرضي جګړو لګیا دي، چې خپل پخوانی برم تري هېر، یوازې د خپل آبادولو سوچ ورسره وي او د غفلت په درانه خوب ویده دي.

یهود او عیسویان په خپل دې جنګي تاکتیك کې د بریا حد ته رسېدلي او ځانونه یې د پیشرفت په نامه نړۍ ته پېژندلي، څکه د مسلمانانو په خپلو پرو لاسونه او پښې تړل شوي دي، یوې خواته هم اقدام نه شي کولای، چې مسلمان خپل غم ورکولو ته نه دی خلاص شوی، نو د بل کومك ته خو بیخي لاس نه شي غځولی، څکه نړۍ کې ټول اسلامي هېوادونه د غم په ټغر په یوازې توګه خپلې ساندې وهي او د "وا معتصماه" غږ سره هیڅ انسان زاد هم نه تر سترګو کېږي.

افغانستان شل کاله د امریکایي اشغال لاندې په سپېرو خاورو کې پروت و، خو هیڅ چا یې مخ له ګردونو څخه پاك نه کړ او نه یې د مرحمت لاس پر سر ور راتېر کړ، چې الله تعالی د خپل قوت په ښودولو سره معجزانه فتحه د آزادۍ د لارې سترو مجاهدینو ته ور په برخه کړه.

د مسلمانانو لومړنۍ قبله مسجد الأقصی نږدې له ۷۰ کلنو څخه د صهیونیستي اسرائیلو په لاس کې لوېدلې او د فلسطین غیور ولس باندې شپه او ورځ د ټکندې غرمې په شان ده، چې د تېز لمر په څېر لوی- لوی بمونه پرې اورېږي، ماشومان یې په مسجدونو، ښوونځیو او مدارسو کې شهیدانېږي، ځوانان یې په پوهنتونونو او ښارونو کې په لاسونو او پښو شل شوه، سپین ږېري او سپین سري یې په کورونو کې له خاورو لاندې شوه، خو بیا هم هیڅ اسلامي هېواد سر ونه کاروه او د پخوا

پـه څېـر لاس تـر زنـې لاندې يې دېره وهلـې او د غفلت په درانه خوب ويده دي.
هغـه ځمكـه چـې د زياتـو پيغمبرانـو عليهـم السـلام پـه قدمونـو ښـكلې او بابركتـه شـوې وه، هـم د وخـت د جابرانـو لخـوا د تـور تمونـو او ظلمونـو لـړۍ پكـې پيـل او د سـوريې د كـدي واكـې يـې پـه لاس كـې واخيسـتې، يواځـې د اسـد كورنـی د ۱۹۷۱ ز كال څخـه چـې د يـوې نظامـي كودتـا پـه توكـه يـې پـه سـوريې واك ترلاسـه او كـدی يـې خـان لپـاره موروثـي كنلـه، داسـې ظلمونـه يـې وكـړل د چنكېـز خـان تاريـخ يـې را ژونـدی كـړ او د كوانتنامـو د زنـدان خاطـرې يـې د صيدنايـا پـه زنـدان جوړولـو سـره د تـور تمونو لـه كتاب څخه حذف كړې.
بالآخـره رب عزوجـل د خپـل قـوت پـه ښـكاره كولـو سـره د ۲۰۲٤ ز، كال د دسـمبر مياشـتې پـه اتمـه نېټـه د عمليـات العسـكريه جهادي خوځښـتونو كـډي اتحاديـې تـه چـې أحمـد الشـرع الجولانـي يـې نظامـي مشـري كـول، د يوولسـو ورځـو پـه مـوده كـې د سـوريې عظيم الشـانه او مبينه فتحه ور نصيب كړه.
كـه څـه هـم اسلامـي نـړۍ ويـده ده، هـر څومـره ظلمونـه او بربريتونـه چـې پـر خـوارو مسـلمانانو كېږي، دوی يـې تماشـه كـوي او ځينـې بـې وجدانـه هېوادونـه خـو بيخـي د دښـمن پـه صـف كـې ولاړ او د مسـلمان پـه ځپلـو كـې پـوره ونـډه اخلـي، خـو لـوی څښـتن عزوجـل تولـي نـړۍ تـه وښـودله، چـې بريـا پـه دېرښـت او د اسـبابو پـه مجهـز والـي نـه ده، بلكـې فتحـه بـه د هغـه ډلـې پـه نصيب وي، چـې الهـي اوامـرو تـه يـې غـاړه ايښـي وي او رب تـه خوښ بندكان وي.
د مبينـو فتحـو پـه لـړۍ كـې مـوږ د افغانسـتان او سـوريې مثالونـه وركولـی شـو، چـې پـه ډېـرو كمـو امكاناتـو او دواړه هېوادونـه د ۱۱ ورځـو پـه جريـان كـې د اسلامـي بـرم د اعـادې كوونكـو شـازلمو د يبلـو پښـو د مزلونـو او الهـي مرسـتې پـه بركـت بريـا ور پـه برخـه شـوه او د اشـغال ټغرونـه يـې ټـول كـړل، نـو ان شـاء الله تعالـی رب عزوجـل بـه د غـزې د ځورېدلـي او ټـوك ټـوك شـوي ولـس آه تـه رسـېدنه كـوي او مبينـه فتحـه بـه ور پـه برخه كوي.

وَمَا ذَٰلِكَ عَلَـى اللَّهِ بِعَزِيزٍ

# د تمدنونو په مرکز کې د اسلامي تمدن څرک

لیکوال: هشام شهید

د عثماني خلافت د سقوط سره سم اسلامي جغرافیه ټوټې ټوټې شوه او هره ټوټه یې د یو اشغالګر په پنجو کې ولوېده، د اوسني سوریې خاوره د فرانسې لخوا اشغال شوه او ټولې چارې یې د وخت د فرانسې د حکومت په خوښه کېدلې، دې اشغال تقریباً شل کاله دوام وکړ.

دوهمه نړیواله جګړه چې ختمه شوه نو د نورو هیوادونو په څېر فرانسه هم په خورا ضعیف حالت کې وه، چې دا توانایي یې نه لرله تر څو د اشغال لاندې سیمې کنټرول کړي؛ نو هم هغه وه چې په ۱۹٤٦ میلادي کال کې سوریې له فرصت څخه په استفادې ازادي واخیسته خو بې ثباته وه، متمرکز نظام یې نه درلود او کډوډي پکې وه.

په ۱۹۵۸ میلادي کال کې د مصر سره یو ځای او د جمال عبدالناصر تر قیادت لاندې وه، خو په ۱۹٦۱ میلادي کال کې بیا خپلواکه شوه، په ۱۹٦۳ میلادي کال کې کمونیزم هلته په چټکې خپور او د بعث ګوند پکې واکمن شو، بعث ګوند د کمونیزم له فکر جوړ ګوند و چې په عراق او سوریه کې و، لکه افغانستان کې د خلق او پرچم ډله.

په ۱۹۷۰ میلادي کال کې د بعث ګوند واک دوام درلود، چې د هغه وخت د بعث ګوند مشر حافظ الاسد پکې ریس جمهور شو، حافظ الاسد تر ۲۰۰۰ میلادي کال ریس جمهور وو خو په همدې کال مړ شو، له مرګ وروسته یې زوی بشارالاسد واک ته ورسېد چې تر اوسه یې واک دوام لري، بشار الاسد هم شعیه مذهبی کمونیست ده چې روسیې او ایران پراخ ملاتړ د ځان سره لري.

د تمدونونو مرکز شام پوره سل کاله د بې دینې او بې سرپرستي ښپې سبا کوي، شام (سوریه) د ډېرو تمدونونو د تهداب ځای دی.

د القاعده د تاسیس سره سم د ټولو پام دې سیمو ته شو، ان تر دې چې په ۲۰۱۷ میلادي کال کې یې د سوریې د خپلواکي لپاره د ابو محمد جولاني په مشري د

تحريـر الشـام پـه نـوم د مجاهدينـو يـوه ډلـه جـوړه كـړه چـې د جبهـة النصـره مجاهديـن پكـې و.

دا ډلـه د تيـرو اوو كلونـو را پـه دې خـوا فعاليـت كـوي چـې ډيـرې كاميابـی د ځـان سـره لـري، سـوريه يـې د ايـران او روسـيې لـه وحشـتونو ژغورلـې، د داعـش پـه څيـر وبـا همـدې د مجاهدينـو كـوچنـي ټولـي له منځه يوړه او ټوله رهبـري يې ورختمه كړه.

د مجاهدينـو يـاد ټولـي لـه اعـداد او تيـاري وروسـته د ردع العـدوان پـه نـوم د اشـغالكرو خلاف عمليـات پيـل كـړي چـې ډيـر بريالـي دي او د بشارالاسـد لـه مليشـو يـې تـر دا مهالـه ډيرې سـيمې فتحه كړې او كم وخت كې به د سـوريې په خاوره حاكم شـي.

إن شاء اللّه.

د فتحـو يـادې لـړۍ تـه ټـول امـت خوشـبين او هيلـه منـد دی، چـې پـه سـوريه كـې د اسلامـي نظـام پـه تاسـيس سـره بـه ټـول منځنـی ختيـځ تغيـر وكـړي، د مجاهدينـو د يـاد ټولـي پـه بريـا سـره بـه نـورو اسلامـي هيوادونـو كـې هـم د جهـاد او اسـتقلال روحيـه پياوړې شـي.

پـه داسـې حـال كـې چـې نـړۍ د تمدنونـو او فرهنگـي تصادمونـو شـاهده ده، اسـلامي تمـدن د روحانيـت، عـدل، علـم او اخـلاص پـه ځـواك سـره يـو ځـل بيـا د زړونـو تسـخير تـه راپاڅېدلـی. لـه مكـې او مدينـې نـه تـر كابـل، قاهـره، اسـتنبول او اندلسـه، د اسـلامي تمـدن رڼـا د تاريـخ پـه اوږدو كـې د بشـريت لپـاره د نجـات يـوه سـتورې پاتـې شـوې. نـن ورځ دا رڼـا، كـه څـه هـم د فتنـو، جګـړو او مغرضـو تبليغاتـو تـر سـيوري لانـدې ده، بيـا هـم د حـق، عدالت او بيدارۍ مشـعل په لاس، د امت د راويښـولو هڅې كوي.

اسـلامي تمـدن نـه يـوازې د عبـادت، بلكـې د علـم، هنـر، معيشـت، نظـام او ژونـد هـر اړخ تـه جامـه وراغوسـتې وه. د انسـان كرامـت، د ښـځو حقـوق، د ټولنـې نظام او د اقليتونو سـاتنه د دې تمـدن ځانګړتياوې وې.

# ځلورم فصل
# سیاسي او ټولنیزې لیکنې

# پر افغانستان د شوروي يرغل؛ لنډ تاريخي شاليد او د نورو لپاره د عبرت درس

ليکوال: جمشېد انصاري

پر افغانستان د شوروي يرغل (۱۹۷۹م – ۱۹۸۹م) د نړۍ په معاصر تاريخ کې يوه تر ټولو وحشتناکه او ويجاړونکې پېښه وه، چې نه يوازې د افغانستان، بلکې د ټولې سيمې او نړۍ سياسي او ستراتېژيك وضعيت يې بدل کړ، د دې يرغل پايلې بايد نه يوازې افغانان، بلکې د سيمې نور هېوادونه هم په ژوره توګه درك کړي او د دغه يرغل څخه اخيستل شوي درسونه بايد د راتلونکي لپاره د ثبات او سولې د ټينګښت لپاره وکارول شي.

## ۱ لنډ تاريخي شاليد:

شوروي اتحاد په ۱۹۷۹م مېلادي کال کې د خلق دموکراتيك ګوند د داخلي شخړو او ولسي مخالفتونو د قابو کولو په پلمه افغانستان ته خپل ځواکونه ولېږل، د دوی هدف دا و چې د خپل نفوذ سيمه پراخه کړي او افغانستان د خپلو ستراتېژيکو موخو لپاره وکاروي، خو د دې اشغال پايلې دومره ويجاړونکې وې چې افغانستان يې په کنډواله بدل کړ.

## ۲ د افغان ولس سپېڅلی جهادي پاڅون:

افغان ولس په خپلو اسلامي، ملي او کلتوري ارزښتونو ولاړ و او د شوروي يرغل پر وړاندې يې جهاد اعلان کړ، دا جهاد نه يوازې په افغانستان، بلکې په نړۍ کې د نورو مظلومو ملتونو لپاره د حريت او آزادۍ يوه بېلګه شوه.

## ۳ د جهاد موخې:

- ✓ د خپلواکۍ ساتنه
- ✓ د شورويانو د استعمار ختمول
- ✓ د اسلامي نظام د قيام لپاره هلې ځلې

## ۴ پايلې:

افغان مجاهدينو د شوروي اتحاد تر ټولو ځواکمن پوځ ته داسې ماتې ورکړه چې په پايله کې يې شوروي اتحاد دړې وړې شو.

۵ د نـورو لپـاره د عبـرت درس:

پـه افغانســتان بانـدې د شـوروي يرغـل لـه تاريـخ څخـه دا درس اخيسـتل کېـږي چـې افغانسـتان د هېـڅ زبرځـواك لپـاره د تسـليمېدو ميـدان نـه دى، هـر هغـه ځـواك يـا هېـواد چـې غـوارې افغانسـتان کمـزورى کـړي، لـه همداسـې برخليـك سـره مخامـخ کېـږي لکه څنګه چې شـوروي اتحاد ورسـره مخ شو.

۶ د ګاونډيو هېوادونو رول:

پـه ځانګـړي ډول، هغـه هېوادونـه چـې د افغانسـتان ګاونـډ دي، بايـد د دې تاريـخ نـه عبـرت واخلـي او د افغانسـتان پـه وړانـدې لـه دښـمنۍ او مداخلـې څخـه لاس واخلـي، پـه دې برخـه کې پاکسـتان ته بايد ځانګړې پاملرنه وشـي، ځکه:

پاکسـتاني پـوځ او ځينـې سياسـتوالو پـه ځلونـو هڅـه کـړې چـې د افغانسـتان پـه کورنيو چارو کې مداخله وکړي.

د افغانسـتان پـر ضـد تورونـه لګـوي او د خپـل کمـزوري سياسـت د پټولـو لپـاره افغانسـتان په نښه کوي.

۷ وروستۍ پېښـه – د پاکسـتاني پوځ وحشـت:

تېـره ورځ، د دسـمبر پـه ۲۴مـه (هغـه ورځ چـې شـوروي اتحـاد پـر افغانسـتان يرغـل پيـل کـړ)، پاکسـتاني پـوځ د پکتيـکا ولايـت د برمـل ولسـوالۍ پـه مظلومـو خلکـو ړنـدې بمبارۍ وکړې. په دې وحشيانه بريد کې:

۵۰ تنـه مظلـوم بـې ګنـاه کـډوال او افغانـان پـه شـهادت ورسـېدل، پـه دې شـهيدانو کـې ۲۷ ښځې او ماشومان شامل و، دا بريد د ټولو شرعي، اخلاقي او نړيوالو اصولو خلاف ترسره شو.

۸ د افغانستان صبر او عزم:

افغانـان د تاريـخ پـه اوږدو کـې د داسـې دښـمنيو او وحشـتونو سـره مخامـخ شـوي دي، خـو هېڅکلـه يـې خپلـې ملـي او اسلامـي ارزښـتونه لـه لاسـه نـه دي ورکـړي، د شـوروي اتحـاد يرغل يې په مېړانه مات کړ، او د اوسنيو دښمنانو هر ډول دسيسې به هم شنډوي.

۹ پيغـام:

پاکسـتان او نـور دښـمن هېوادونـه بايـد د شـوروي اتحـاد لـه برخليـك څخـه عبـرت واخلـي، افغانسـتان د اسلامـي امـت زړه دى، او د دې خـاورې دښـمني د ټـول امـت دښـمني ده، د دې پـر ځـاى چـې د افغانسـتان پـر وړانـدې دسيسـې جـوړې کـړي، بايـد د سـيمې د سـولې او ثبـات لپـاره لاسـونه ورکـړي او د خپلـو ولسـونو لپـاره د مثبـت بدلـون لارې ولټوي، افغانـان بـه د تـل لپـاره د خپلواکـۍ، وقـار، او د اسلامـي نظـام د قيـام لپـاره هڅـې کـوي او هېڅ زبرځواك بـه د دوى عزم کمزورى نه کړي.

# د ابدالي او غزنوي بچيان خپل غچ نه پرېږدي !

لیکـوال: احمد عابد

د ا.ا.ا لـه بیاځـل واکمنتیـا وروسـته لـه کاونډیـو اسلامـي هیوادونـو څخـه دا تمـه کېدل چې د خواخوږو رول بـه ولوبـوي او د افغانسـتان پـر ويـر لړلـي او غم‌ځپلـي ولـس بـه خپلـه مرسـته او همـکاري ولـوروي، خـو لـه بـده مرغـه چې دا توقعـات ناسـم وختـل؛ يـو شـمېر کاونډويـو هيوادونـو د پرديـو پـه لمسـون لـه افغانسـتان سـره غـدر، خيانـت او درغلـی تـه مخه کـړ، چې پاکسـتان هيواد په ياد رديف کې لومړی مقام لري.

پاکستاني ځواکونو د ا.ا.ا لـه بريـا وروسـته پـه مکـرر ډول د هوايـي بريدونـو، بمباريـو او توغندیـزو حملـو پـه مټ د افغانسـتان ځمکنـی بشـپړتيا او ملـي حاکميـت تـه سـپکاوی وکـړ، دا چې د پاکسـتان هيـواد يـاد حـملات د نړيوالـو اصولـو او ملکـرو ملتونـو لـه منشـور سـره پـه ټکـر کې دي؛ پـه خپـل ځـای دې پاتې وي، خـو دا بايـد جوتـه شـي چې افغـان ولـس لـه دې هيـواد څخـه د اسلامـي کاونډيتـوب او ورورۍ توقـع لـرل نه دا چې د دښمنۍ ډکر ته راودانګـي او کرکې ته لمن ووهي.

د دوسـت پـه جامـه کې يـاد دښـمن داسې مهـال افغانسـتان لـه خـوږ کوټې راټېنګـوي چې تـازه لـه اوږدې او خـورا بلا خـورې جګـړې راوتلـی دی او هڅـه کـوي د خپلـو زخمـي متـو پـه مرسـته پـر خپـل ځلوبښـت کلنـو ژورو سياسـي او نظامـي ټپونـو ملهـم کښېږدي، پاکسـتان د نظامـي يرغلونـو سربېره د افغـان ولـس دښـمنو کړيـو تـه پـه خپلې خـاوره کې ځـای هـم ورکـړی دی تـر څـو وږي ليـوان هلتـه وسـاتي او لـه فرصـت سـره سـم يې د خپلو منافعو لپاره وکاروي.

اوس مهـال پاکسـتان د يـو لـړ پټـو سياسـي هڅـو ښـکار کرځيدلـی دی تـر څـو پـه افغانسـتان کې شـته ثبـات لـه مېنځـه يوسـي او افغـان ولـس يوځـل بيـا لـه کـڼ شـمېر ناخوالـو سـره لاس او ګريـوان کـړي؛ لـه همـدې املـه يې پـه غيرسـنجيده توګـه څـو ځلې تيروتنې کړي دي.

بـل لـورې تـه د ا.ا.ا پـه مکـرر ډول يادونـه کـړې ده چې افغانسـتان د نـړۍ لـه ټولـو هيوادنـو پـه خاصـه توګـه لـه کاونډيـو سـره پـه اسلامـي چوکاټ کې دننـه ښې

اړيکـې غـواړي او پـه عيـن حـال کـې د متقابـل احتـرام ليدلـوري تـه ژمـن دی چـې نـور جهتونـه هـم بايـد يـاد حکومـت تـه پـه درنـه او پسـته سـترګه وګـوري؛ خـو پاکسـتان هيـواد لکـه چـې پـه خـوړې او پسـتې لهجـه هېـڅ نـه پوهيـږي او يـا دا چـې ځـان يـې تغافـل کـې اچولی دی چې موږ سياسـي درايت او پوهه نه لرو.

لنـډه دا چـې پاکسـتان د خپلـو مکـررو تېروتنـو او سـرغړونو لـه املـه د افغانسـتان اسلامـي امـارت نظامـي ځواکونـه اړ ويسـتل چـې ترکـي تـه پـه ترکـي ځـواب ورکـړي او هغـه شـرير عناصـر او اسـتخباراتي لاسـونه وځپـي چـې د يـاد هيـواد پـه مرسـته يـې د افغـان ولس د وير او ژړا پلانونه جوړول.

د ډيورنـډ فرضـي کرښـې هـا غـاړې تـه پـر فسـادکرو وروسـتی بريـد چـې تېـره شـپه د ١.١.١ د زړورو ځواکونـو پـه مـټ ترسـره شـو؛ نـه يـوازې د خپـل ولـس د غـچ اخيسـتنې قاطـع اقـدام و بلکـې د هغـو معصومـو وينـو پـور هـم وو چـې ځـو ورځـې وړانـدې د پکتيـکا ولايت په برمل ولسـوالۍ کې د پاکسـتاني فوج له لورې وبهول شـوې.

د ابدالـي او غزنـوي مېړنـي او سـرتېري بچيـان خپـل د خـاورې هـره لويشـت سـاتي او پـرې غيـرت بـه کـوي، د ١.١.١ سـربېره پـر دې چـې خـورا پراخـه او پخـه سياسـي سـينه لـري خـو کلـه ناکلـه نـورو ناپوهانـو تـه د ادب لپـاره لـه ډب څخـه کار اخلـي تـر څـو بـل ځـل داسـې سـرغړونه تـرې و نـه شـي، د ابدالـي او غزنـوي مېړنيـو بچيانـو بيـا ځـل کاونډيـو تـه پـه ډاګـه کـړل چـې د دښـمن هـر ډول وحشـت تـه قاطـع او کلـك ځـواب ورکـولای شـي او څوك دې زموږ د بربادیـو خوبونه نه ويني.

# د اسلامي امارت سپېڅلی نظام او د ډیموکراسۍ ناوړه لمن

ليكــوال: عزيزعازم

ديموكراســي د غربــي نـړۍ يـوه داسـې سياسـي پديـده ده، چـې د خپلـې لاسـته راوړنـې او ويــاړ وړ موضــوع پــه توګــه يــې وروســته پاتــې هېوادونــو پــه ځانګــړي ډول اسلامــي هېوادونـو تـه وړانـدې کـوي، څـو پـه تطبيـق سـره دوی د نړيـوال مشـروعيت او يـوه معنـوي امتيــاز خاونــدان شــي، خــو لــه بــده مرغــه غــرب پــه منځنيــو پېړيــو کــې خپـل هغــه زړ کلن وحشـتونه هېروي چې اوس يې هم په يادولو سـره د بشـر روح لړزېږي.

هغـه مهـال چـې غـرب پـه دغـه تيـاره پېړيـو کـې مـزل کـاوه، اسلامـي شـرقي هېوادونـه د علمــي او معنــوي پرختـګونــو، مدنيـت او ساينســي اختراعاتــو پـه اوج کــې وو، تـر دې چـې پـه اندلـس کـې يـې لومـړی ځـل پوهنتـون، مدرسـې، کتابتونونـه او علمـي بحثونـه رامنځتــه کــړل چــې ورســره د اروپــا پــه زړه کــې د علــم او فرهنــګ رڼــا خپــره شــوه او اروپايـان يې له يوه درانه وحشـي خوب څخه را ويښ کړل.

د ديموكراســي يــا ديموكراتيــك نظــام د تعريــف لــه مخــې خلــك بايــد پــه خلكــو واكمنــي وكــړي، دلتــه اكثريــت پــه نظــر كــې نيــول كېــږي او نــور دې تــه نــه كــوري چــې اكثريــت بايــد كومــې ځانګــړنــې ولــري، د ټاكنــې ميتــود او لارې يــې څنګــه وي؟ بـس چـې پـه هـره طريقـه يـې د خلكـو لـړ او ډېـرې رايـې تـر لاسـه كـړې، همغـه به د ٥٠ جمع ١ په اسـاس واكمن وي او نور ٤٩ سـلنه وګړي هېڅ معنی نه لري.

اشـغالګرو پـه ٢٠٠١ م كال افغانسـتان تـه د راتـګ پـر مهـال همـدا غربـي مـډل د جمهوريـت تـر عنـوان لانـدې افغانسـتان تـه راووړ او پـه وروسـتۍ ټاكنـو كـې خـو يـې لـه ٣٥ ميليـون وګـړو څخـه يـوازې ٨ لكــه شـاوخوا كسـانو كـډون كـړی و چـې اكثـره رايـې يـې هـم جعلــي وې او پــر اســاس يــې يــو دوه ســری حكومــت جــوړ شــو چــې دې تــه يــې د ديموكراسۍ نوم ورکړی و.

د ديموكراســۍ پــه كرغېړنــه حلقــه كــې پــه ظاهــره ښــځې، ماشــومان، د شــخصي حريــم خونديتــوب، بشــري حقونــه، مدنــي ازادۍ او د ملكــي اماكنــو خونديتــوب پــه ســر كــې ځــای لــري، خــو د منځنــي ختيــځ وروســتيو كړكيچونــو پــه ځانګــړي ډول د

فلسـطين مظلـوم ولـس روانـې ناخوالـې، چـې تـر شـا يـې غـرب او امريـکا ولاړ دي، د ديموکراسـۍ ددې اصولو رعايت ښـه په اثبات رسوي.
استاد الفت وايي چې ديموکراسي شنډه ونه ده او شنډه ونه نه مېوه ورکوي او نه يې سيوری هم د کتې اخيستنې وړ وي، په افغانستان کې هم دغه شنډې او له غرب څخه ملاتړې ديموکراسي داسې لوبې وکړې چې بيان يې ژبه سوځوي.
تر ټولو بده يې دا وه چې د خلکو تر منځ يې قومي، ژبني او منطقوي تعصب رامنځته کړ، لوړې حکومتي څوکۍ د وړتيا او اهليت پر ځای د قوميت په اساس ووېشل شوې، د حکمت مشر پښتون، مرستيالان يې تاجك يا هزاره او يا ازبك چې ددغه تعادل د اثبات لپاره يې دوه سرى حکومت يعنى اجرائيه رياست هم رامنځته کړ.
لنډه دا چې ديموکراسي په افغانستان کې خپله ناوړه او بدرنګه څېره خلکو ته وښوده او هېواد يې د بحرانونو داسې ډنډ ته ور ټېل واهه چې نور د ژغورل کېدو نه و او د ډموکراسۍ تر نوم لاندې واکمن رهبران هم ورته حيران وو، چې څه وکړي؟ په داسې حال کې چې د دوی پر وړاندې په معاصر تاريخ کې د «خلق ديموکراتيك» کمونيستي نظام ترخه تجربه هم تېره شوه، تره کي، امين، کارمل او نجيب د ديموکراتيك او ديموکراسۍ ته ژمن افغانستان په نوم ملت او هېواد در په در کړ او پايله يې کورنۍ جګړې شوې.
په دې کې شك نشته چې د غربي ديموکراسۍ له وروستيو خرمستيو وروسته هم افغانستان د اوپايمو کلونو د مهال ناورين ته ور روان و، خو د اسلامي امارت سياسي او پوځي تدابير، اسلامي شريعت رښتينو اصولو ته ژمنتيا ددې سبب شوه چې افغانستان يو ځل بيا وژغوري او په شاوخوا دوو اونيو کې په کې داسې محکم او رښتينى اسلامي نظام حاکم کړي، چې بيا څوك د کورنيو جګړو خوب هم ونه ويني او نن د افغانستان خلك ښه تفکيك کولى شي چې دوی ته غربي ديموکراسي او سپېڅلي اسلامي شريعت څه ورکړل، ابرو او عزت يې په کوم نظام کې خوندي دي.
لکه مخکې مې چې يادونه وکړه، ديمو کراسي د غربي هېوادونو يوه تبليغاتي وسيله ده، دوی هڅه کړې چې د اسلامي نړۍ ځينې غورځنګونه او مشران منحرف کړي، د امريکايي پوهنتونونو فارغان واك ته راولي، د اسلامي

جمهوريت او ديموکراسۍ له شعارونو سره يې د واك پر ګديو کېنوي.

لـه بـده مرغـه چـې لـه داسـې مشـرانو يـې ځينـې د ديموکراسـۍ تـر اغېـز لانـدې راغلـي او د هغـو سـتاينه يـې هـم کـړې او د «اسلامـي ديموکراسـۍ» اصـطلاح يـې کارولـې ده، د تونـس هېـواد اسلام پالـه رهبـر راشـد الغنوشـي پـه ۱۹۹۲ کال کـې، چـې پـه سياسـي تبعيـد کـې يـې شـپې ورځـې تېرولـې، لـه لنـدن ابـروزور خپرونـې سـره پـه مرکـه کـې يـې ويلـي وو: کـه چېرتـه لـه ديموکراسـي څخـه موخـه د هغـه ليبـرال حکومـت مـاډل وي کـوم چـې پـه غـرب کـې دود دی، يعنـي داسـې نظـام چـې خلـك پـه ازادانـه ډول خپـل استازي او رهبـران وټاکـي او تـر څنـګ يـې پـه ټولـو ازاديـو، قـدرت او بشـري حقونـو کـې د عامـو خلکـو د ځـای پـر ځـای کولـو جـواز ولـري، پـه دې صـورت کـې مسـلمانان پـه خپـل مذهـب کـې داسـې کومـه خبـره او مطلـب نـه شـي موندلـی چـې لـه ديموکراسـي سـره مغايرت ولري او داسـې کوم کار کول يې په کتـه هم نه دي.

د غنوشـي پـه څېـر کـڼ نـور مسـلمان مشـران هـم د غـرب تـر اغېـز لانـدې وړانـدې تللـي او ديموکراسـي يـې پـه اوسـنۍ نـړۍ کـې د اسلام د خاصـو الزاماتـو د تحقـق مناسـبه لاره کڼلـې ده، چـې لـه بـده مرغـه دوی ټـول لـه دغـه سـتر حقيقـت څخـه سـترګې پټـوي چـې اسلام خپـل پيـروان د بنـده پـه لاس د جـوړو شـوي وضعـي قوانينـو لـه پيـروۍ څخـه منعـه کـوي او يـوازې د هغـه سـتر اسـماني او الهـي قانـون متابعـت تـه يـې رابولـي، چـې د بشـري عقـل او نبـوغ څخـه خـورا اوچـت دی، خـو د بشـر د معنـوي او فزيکـي جوړښـت ټولـې اړتيـاوې او ځانګړتياوې يې پـه پام کـې نيولي دي.

پـه پـای کـې بايـد دا حقيقـت ومنـو چـې د افغانسـتان اسلامـي امـارت غربـي او پـردۍ نسـخې نـه منـي، دا چـې شـاوخوا پنځـه لسيزې پـه هېـواد کـې کورنـۍ جګـړې روانـې وې، ځرګنـد دليـل يـې د يـوه سـوچه اسلامـي نظـام حاکميت و، کـه خبـره د ليبـرال او غربـي ديموکراسـيو د نظريـو د تطبيـق امـکان وی، نـو دا کار بـه پخـوا شـوی وی او اوس به افغانسـتان ارام و، خو نه.

افغانسـتان يـوازې د اسلامـي شـريعت د حاکميـت پـه اسـاس د بشـپړې سـولې او ثبـات خاونـد ګرځـي او د اسلامـي امـارت د قـوت يـو عمـده ټکـی هـم د خلکـو دغـه معنـوي غوښـتنې تـه درنـاوی دی او لـه يـوې شـمېر غـرب مېشـتو پرتـه نـور ټـول افغانـان د ديموکراسۍ له معنوي خلاوو او عيبونو سـره اشنا دي او نفرت ورځخه لري.

# د اوآی‌سي متنازعه غونډه؛ د پاکستان د لاسوهنې د پاليسۍ دوام دی!

لیکـوال: عبدان صافی

په پاکستان کې د او آی سي غونډه د افغان ولس د حقونو، د ښځو د تعليم او د انساني بحران په تناظر کې ورانديز کېږي، خو د دې غونډې اصلي موخې بل ځای پټې دي، پاکستان تل هڅه کړې چې افغانستان تر خپل اغېز لاندې وساتي، خو کله چې د افغانستان اسلامي امارت د خپلې خپلواکۍ پاليسي خپله کړه، نو دا د پاکستان لپاره د منلو وړ نه وه.

د او آی سي غونډه هم د دې لړۍ يوه برخه ده، يوه سياسي حربه چې موخه يې د افغانستان اسلامي امارت کمزوری کول او فشار پرې راوړل دي، خو پوښتنه دا ده چې پاکستان، چې په خپله د بشري حقونو، د بيان د آزادۍ او د تش په نوم ديموکراتيکو اصولو د نقض کولو لپاره مشهور دی، کم بل هېواد ته د درس ورکولو حق له کومه تر لاسه کړی دی؟

هغه پاکستان چې غواړي افغان ماشومانو او نجونو ته د تعليم حق ورکړي، آيا په خپل هېواد کې يې د ماشومانو د تعليم لپاره څه کړي دي؟ د پاکستان حکومتي شمېرې ښيي چې په دغه هېواد کې له ۲۶ ميليونو څخه زيات ماشومان له ښوونځيو او مدرسو بهر دي، چې په نړۍ کې د تعليم څخه د بې برخو ماشومانو تر ټولو لوړه کچه ده.

دا حقيقت له هيڅ چا پټ نه دی چې د پاکستان دولت، په ځانګړې توګه پوځ، تل د افغانستان په چارو کې لاسوهنه کړې ده، هره افغانه اداره د خپلې خوښې سره سم چلول، کله د سرحدي لانجو راپورته کول، کله د سوداګرۍ لارې تړل او د افغانستان اقتصاد ته زيان رسول او کله د ترهګرۍ تورونه لګول چې د افغانستان ولس په نړيواله کچه بدنام کړي.

دا ټولې هغه حربې دي چې د پاکستان د افغاني پاليسۍ برخې وې، خو اوس وخت بدل شوی دی، افغانستان اوس د بهرني فشار منلو ته تيار نه دی او پاکستان بايد دا ومني چې نورې خپلې زړې لوبې نشي ترسره کولای.

کـه پاکسـتان تـه واقعـاً د بشـري حقونـو او آزادۍ اندیښـنه وي، نـو بایـد پـه خپـل هېـواد کـې روان ظلمونـه ودروي، د پاکسـتان اسټبلشـمنټ او تـرې لانـدې حکومتونـو تـل د خپلـې ناکامـۍ پټولـو لپـاره بهرنـي موضوعـات راپورتـه کـړي دي، پـه افغانسـتان بانـدې نیوکـه او فشـار راوړل هـم د دې سیاسـت یـوه برخـه ده، خـو حقیقـت دا دی چـې پـه خپلـه پاکسـتان د سـختو داخلي بحرانونو سره مخ دی.

پـه هېـواد کـې یـې سیاسـي بـې ثباتـي خپـل اوج تـه رسـېدلې ده، پـه وروسـتیو کلونـو کـې د پاکسـتان پـه سیاسـت کـې هـر هغـه څـه وشـول، چـې ټولـې نـړۍ ولیـدل، یـو منتخـب حکومـت د پـوځ د سیاسـتونو تـر خوښـې لانـدې ختـم شـو، چـې داسـې سیاسـي بحـران یـې رامنځتـه کـړ چـې تـر ننـه روان دی، پـه ټاکنـو کـې ښـکاره درغلـۍ، پـه رسـنیو بندیزونـه او د قضایـي نظـام د خپلـو موخـو لپـاره اسـتعمال؛ دا هغـه کامونـه دي چې په پاکسـتان کې موجوده نمایشـي دیموکراسـي یې یوه ټوکه کرځولې ده.

پـه بلوچسـتان کـې د ریاسـتي ظلمونـو تاریـخ څـو لسـیزو تـه رسـېږي، زرګونـه بلـوڅ ځوانـان پـه زوره بـې درکـه کـړل شـول، سـلګونه مسـخه شـوې مـړي پـه شـاړو سـیمو کـې وموندل شـول او پاتې یـې یا په زندانونو کې دي یا له هېواده تښتېدلي دي.

د پاکسـتان ریاسـت تـل د بلوچسـتان ولـس باغیـان او تجزیـه غوښـتونکي ګڼلـي او د هغـوی حقونـه یـې تـر پښـو لانـدې کـړي دي، هغـوی یـې لـه تعلیـم، کار او اساسـي خدماتـو بـې برخـې کـړل، پـه بلوچسـتان کـې جبـري ورکونـې او ماورای عدالـت وژنـې عـادي کرځېدلـې دي، د پاکسـتان پـوځ او اسـتخباراتي ادارې هـر هغـه څـوك پـه نښـه کوي چې د ریاسـتي جبر پـر وړاندې غږ پورته کړي.

پـه خیبـر پښـتونخوا کـې هـم حـالات چنـدان مختلـف نـه دي، هلتـه خلـك د ترهګـرۍ ضـد جګـړې پـه نامـه پـه نښـه کـړل شـول، د پاکسـتان پـوځ د عملیاتـو پـه تـرڅ کـې بـې ګنـاه ولـس تـه ډېـر زیـان ورسـاوه، ټـول کلـي یـې وران کـړل، بـې ګنـاه خلـك یـې د ترهګـرو پـه نـوم ووژل او چـا چـې د خپلـو حقونـو لپـاره غـږ پورتـه کـړ، هغـه یـې غـدار او د هېواد دښـمن وباله.

پاکسـتان چـې د نـورو هېوادونـو د بشـري حقونـو پـه اړه خبـرې کـوي، بایـد لومـړی د خپـل هېـواد رسـنیو تـه وګـوري، دلتـه خبریـالان ښـکاره توګـه تښـتول کېـږي، شـکنجه کېـږي او زیـات وخـت وژل کېـږي، رسـنۍ د پـوځ تـر بشـپړ کنټـرول لانـدې دي او هـر څـوك چـې د هغـوی پـر خلاف خبـرې وکـړي، هغـه یـا خاموشـه کېـږي یـا

مجبورېږي چې له هېواده وتښتي.

د ۲۰۲۳ مېلادي کال لپاره د "هيومن رايټس واچ" راپور ښيي چې په پاکستان کې د بشري حقونو وضعيت ډېر خراب دی، د بيان آزادي، د اقليتونو حقونه، د ښځو حقونه او سياسي آزادۍ په دوامداره توګه کمېږي، پاکستان د هغو هېوادونو په ډله کې دی چې د بنسټيزو حقونو نقض پکې عام دی.

په ۲۰۲٤ مېلادي کال کې په پاکستان کې د بشري حقونو په اړه ډېرې ستونزې مخې ته راغلې دي، د "ورلډ جسټس پروجيکټ" د روا آف لا انډيکس کې پاکستان په ۱٤۰ هېوادونو کې ۱۲۵م ځای لري، چې په بشري حقونو کې ټيټ ځای ښيي.

د پاکستان د بشري حقونو د وزارت د راپور له مخې، د ۲۰۲۱ څخه تر ۲۰۲۳ مېلادي پورې په پنجاب کې د ښځو پر وړاندې د تشدد، جنسي تېري او وژنو ٤,۳۷٦ پېښې ثبت شوې دي، چې دا د نورو صوبو په پرتله تر ټولو ډېره شمېره ده او دا يوازې د يوه ولايت وضعيت دی.

په دې حالاتو کې، هغو کسانو ته چې په او آی سي کانفرانس کې ګډون کوي، پکار ده چې دا درک کړي چې د افغانستان په چارو کې مداخله او د پاکستان د سياسي چلونو برخه جوړېدل غيراخلاقي او زيان رسوونکي دي، که دا غونډه په رښتيا د بشري حقونو او د ښځو د تعليم لپاره وي، نو لومړی بايد په پاکستان کې روانې جبري ورکول، د پوځ ظلمونه او د بيان پر آزادۍ بنديزونه وڅېړل شي.

او آی سي بايد د افغانستان په چارو کې د لاسوهنې پر ځای له دې هېواد سره د برابرۍ په بنياد اړيکې جوړې کړي، د افغانستان اقتصاد، تعليم او پرمختګ لپاره عملي ګامونه واخيستل شي، نه دا چې د پاکستان اجنډا مخته يوسي، که او آی سي غواړي خپل وقار وساتي، نو بايد د پاکستان له سياسي حربو ځان لرې وساتي او په واقعي ستونزو تمرکز وکړي.

# پاکستانی رژیم د افغانستان د پخوانۍ ادارې (جمهوریت) پر نقش قدم!

لیکوال: مفتي ابو حارث د جامعه مخزن العلوم کراچۍ فاضل او متخصص

له حالاتو څخه خبر خلك په دې ښه پوهېږي، لکه څنګه چې په پاکستان کې د دوو سترو قوتونو (تحریك طالبان پاکستان او پوځي ادارو) تر منځ نظامي او عسکري جګړه اوج ته رسېدلې، په هم هغه اندازه یاد دواړه لوري د یو بل په وړاندې په رسنیز او تبلیغاتي ډګر کې هم ښه فعال او سرګرم لیدل کېږي.
که له یوې خوا د تي تي پي مجاهدین هره ورځ په لسګونو امنیتي کارکوونکي وژني، له بلې خوا امنیتي ادارې هم په ټول هېواد کې د تي تي پي پر ضد په پرلپسې توګه چاپې او عملیات کوي، مطلب دا چې اوس د پاکستان خاوره او په ځانګړې توګه خیبر پښتونخوا د جګړې په ډګر بدله شوې ده او روانو حالاتو د ۲۰۱۳ مېلادي کال څخه هم خورا ډېره انقلابي او ویرونکې بڼه خپله کړې ده.
د هېواد سیاسي او دفاعي وضعیت نږدې هغه کچې او حالت ته رسېدلی چې د اشرف غني ادارې (جمهوري دولت) پکې په وروستیو کې قرار درلود، د اشرف غني ادارې د زوال په وروستیو پړاوونو کې دوو کارونو ته ډېره پاملرنه وکړه او په ډېر مېړانه یې ترسره کړل، دا هغه لاملونه دي چې له امله یې هر حکومت او نظام له سقوط او ماتې سره مخ کېږي.

لومړی کار:

د اشرف غني ادارې لومړی کار دا وکړ چې په هر ځای کې به د دوی قوت کمزوری شو او د طالبانو سره د مقابلې توان به یې له لاسه ورکړ، نو په بې وزله خلکو به یې خپل زړونه خالي او زور ازموینه پیل کړه.
ړندې بمبارۍ یې کولې، پر عامه ځایونو، بازارونو او جوماتونو به یې ډرون بریدونه کول، توپونه به یې په دومره لویه او بې دریغه کچه په کلیو او بادیو ور توغول چې آن پوره پوره کلي به یې په کنډوالو بدل کړل، ددې لپاره خلك په تکلیف کړي او و یې وېروي، تر څو طالبانو ته په خپلو جوماتونو، خونو او مېنو کې د

اوسېدو اجازه ور نه کړي او له سیمې څخه په وتلو مجبور شي.
خـو د افغانانـو دینـي میړانـې او ملـي غـرور څخـه قربـان چـې د دې تولـو وحشـتونو او ظلمونـو پـه زغملـو سـره یـې بیـا هـم د طالبانـو پـه وړانـدې د حکومت هیـڅ قسـم ملاتـړ و نه کړ.
د افغـان ملـت د صبـر، زغـم او قربانیـو نتیجـه نـن ورځ ټولـې نـړۍ ولیـده چـې نـن پـه هـم هغـه افغانسـتان کـې داسـې امـن، امـان او ثبـات قایـم دی چـې ټولـه اروپـا او آمریـکا یـې پـه خپـل ټېر څو سـوه کلن تاریخ کې، یوه بېلکـه نه شـي وړاندې کولای.
پاکسـتاني دولـت د اشـرف غنـي پـه نقـش قـدم، پـه قبایلـو بانـدې ټولـو هغـو ظلمونـو او وحشـتونو تـه ملا تړلـې چـې د اشـرف غنـي اداړې لـه افغانانـو سـره کـول، د خیبـر درې اړونـد د "پیـر میلـې" پـه ډك بـازار کـې د ډرون پـه برید کـې د سـکول او مدرسـې د ماشـومانو په کډون کڼ دوکانداران په نښـه شول.
پـه شـمالي او جنوبـي وزیرسـتان کـې پـه دې ډول ډرون بریدونـو کـې کـڼ عامـه ځایونـه پـه نښـه او د ماشـومانو، سـپین ږیـرو او ښـځو پـه شـمول کـڼ شـمېر عـام بـې ګنـاه خلـك پـه ډېـر وحشـت او بربریـت سـره پـه شـهادت ورسـېدل، کـه چیـرې د پاکسـتان خلـك او پـه ځانګـړې توګـه د خیبـر پښـتونخوا ولسـونه هـم د پاکسـتان د دولـت د ظلمونـو پـه وړانـدې د افغانانـو پـه شـان اسـتقامت وښـیي، نـو ډېـر وخـت بـه و نـه لـري چـې پـه پاکسـتان کـې هـم د افغانسـتان پـه څېـر امـن، ثبـات او اسلامـي نظـام رامنځ ته شـي، ان شاء الله تعالی.

دویم کار:

د اشـرف غنـي اداړې دوهـم کار دا وکـړ چـې پـه دولتـي کچـه یـې پـه رسـنیو کـې د طالبانـو پـر ضـد زهـر شـیندل پیـل کـړل او د طالبانـو د بدنامولـو لپـاره یـې لـه ګنـو تکتیکونـو څخـه کار واخیسـت، لکـه ویـل بـه یـې چـې افغـان طالبـان د ISI لـه لـوري روزل کېـږي، د پاکسـتاني ادارو د موخـو لپـاره افغانـان وژنـي او دا جهـاد نـه؛ بلکـې کاروبار دی او داسې نور.
نـو آیـا دې تـه ورتـه تبلیغاتـو او پروپاګنـد دوی تـه کومـه ګټـه وکـړه؟ آیـا د دوی فاسـد ډیموکراتیـك او جمهـوري نظـام همداسـې برقـرار پاتـې شـو؟ آیـا دغـو تبلیغاتـو او درواغجـن پروپاګنـد د طالبانـو شـهرت او مـرال تـه کـوم زیـان ورسـاوه؟ وګـورئ نـن ورځ پروپاګنـد کوونکـي چیـرې او طالبـان چیـرې دي، څـوك د افغـان ملـت پـه ګټـه او پـه

هېواد کې د رېښتينې سولې او امن ساتونکي ثابت شول؟

محترمو لوستونکو !

د پاکستاني رياست غاصبو چارواکو او پوځي طبقې همدغه ناکامه پاليسي په دوامداره او مسلسله توګه خپله کړې او دا فکر کوي چې ګواکې موږ کوم لوی کار کړی او د برياليتوب په لور روان يو، په دې اړه يو چا څه ښه ويلي دي:

بترسم که نه رسی بکعبه اے اعرابی

اين راه که تو ميروی بترکستان است

پاکستاني رياست او د دوی رسمي او غير رسمي اکاونټونو هم د اشرف غني ناکام سياست او کرنلاره خپله کړې ده، له دغو پروپاګندونو څخه يو پروپاګند هغه دی چې دوی پکې کوښښ کوي، ترڅو د تحريک طالبان پاکستان د مشر، مفتي نور ولي محسود ابو منصور عاصم صاحب يو ږغيز پيغام د ثبوت په توګه وړاندې او دا تاثر خپور کړي، چې ګواکې د تحريک طالبان پاکستان قيادت او مشرتابه په افغانستان کې دی او له هماغه ځايه خپلو مسؤلينو او مجاهدينو ته لارښوونه کوي.

" هغه تشکيلات (مجاهدين) چې اوس په محاذونو او سنګرونو کې موجود دي، بايد استقامت وښيي او خپلو مرکزونو او کورونو ته د بېرته ستنېدو زحمت ونه کړي"

څو ورځې کېږي چې پاکستاني رسنۍ په دغه وړه خبره باندې شخوند وهي او وايي چې وګورئ؛ د تحريک طالبان پاکستان مشرتابه او قيادت له افغانستانه خپلو جنګياليو ته لارښونه کوي، چې له محاذونو څخه افغانستان ته مه راځئ.

له عقلي دلايلو او سياسي بصيرت څخه بې برخې او د نړۍ د لومړي نمبر استخباراتو د لرلو دعوه کوونکي، په دې نه پوهېږي چې د تحريک طالبان پاکستان رهبري چيرې ده.

اې له عقل څخه خالي سياستوالو !

د تحريک طالبان پاکستان وياند محمد خراساني څو څو ځله اعلان کړی چې که څوک وغواړي چې زموږ له مشرتابه سره وګوري او دا تاييد کړي چې د تحريک طالبان پاکستان مشرتابه چيرته دی، نو موږ حاضر يو ترڅو زموږ تر واک لاندې سيمو کې بې طرفه ژورناليستانو ته بلنه ورکړو چې د زموږ له مشرتابه سره

وکوري او مرکه ورسره وکړي.

خو د څو میاشتو په تېرېدو سره بیا هم د ټي ټي پي په دې غوښتنه خاموشي اختیار شوې ده، چې دا د دې خبرې ښکاره دلیل دی چې که چیرې دولتي اشغالګر ځواکونه چا ته د ټي ټي پي تر کنټرول لاندې سیمو کې د ټي ټي پي له قیادت او مسؤلینو سره د لیدلو او مرکو اجازه ورکړي، نو حقایق به را برسېره او د پاکستاني دولت د ټولو تبلیغاتو او پروپاګند حقیقت به ښکاره شي.

نو اوس تاسې خپله ووایاست چې د دې حقیقت له څرګندېدو وروسته به د افغانستان پر اسلامي امارت لګېدلي تورونه څنګه دوام وکړي او د امریکا ملګرتیا به څنګه ثباته او برقراره پاتې شي؟

د امنیتي ادارو د جنګي وسایلو، افرادو او عملیاتو په پرتله د ټي ټي پي تناسب ډېر کم دی، خو له دې سره سره د ټي ټي پي مورال ورځ په ورځ قوي کېږي او د پاکستان دولت له وېرې او خوف سره مخ دی، د ټي ټي پي ملاتړ په هیواد کې مخ په ډېرېدو دی، او د پوځ څخه د نفرت ریښه لا په اوږدېدو ده.

له ولسونو سره د تحریک طالبان پاکستان د نرمۍ، د علماوو د لارښوونې، له سیاسي خلکو سره د اخلاقي چلند له امله له ولسونو سره د اعتماد اړیکې مخ په قوي کېدو او د استحکام په لورې رواني دي، په داسې حال کې چې د پوځ بدمعاشي، وحشتونو، د ذخیرو غصبول، په زوره یرغمل کول، په جبري توګه د خلکو تښتول او ورکول، په کورونو او بازارونو ړندې بمباری، د امریکا او غربي ځواکونو غلامي، بې حیایي او ناوړه چلند له امله پوځي ادارې او امنیتي ارګانونه د ولس په سترګو کې خورا ذلیل او سپک ښکاري.

دولتي ادارې باید د بې اساسه تبلیغاتو پر ځای له عقل څخه کار واخلي، دا چې اوس تحریک طالبان پاکستان په یوه نه ماتېدونکي ځواک بدل شوی، د دولت دا ډول بې بنسټه ادعاوې د تحریک طالبان پاکستان د لا ثبات لامل ګرځي، همدا راز د افغانستان د اسلامي امارت اړوند بې بنسټه او غیر شرعي څرګندونې یواځې او یواځې د امریکا اجنډا ده، چې د پاکستان خلکو ته په هېڅ صورت د منلو وړ نه ده.

# پاکستان دې د افغانانو له تاریخه عبرت واخلي

لیکوال: ابو هاجر الکردي

د پاکستان پوځ وروستي بریدونه او د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالۍ د ولسي خلکو د کورونو بمبارۍ؛ په حقیقت کې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا پر خلاف ښکاره سرغړونه او تېرۍ ګڼل کېږي، دا برید چې پکې څو ماشومان په شهادت رسېدلي؛ د پاکستاني پوځ ظالمانه او بې رحمه څېره ښکاره کوي.

د افغانستان د اسلامي امارت دفاع وزارت هم د دې جنایت په غبرګون کې، د پاکستان حکومت ته خبرداری ورکړی او دا برید یې د هېواد او پولو ښکاره تېری ګڼلی دی.

د پاکستان رژیم تل د افغانستان د ناامنۍ په هڅه کې دی او په خپلو اعمالو سره غواړي د افغانانو حیثیت زیانمن کړي او پر هغوی تېری وکړي.

په دې برخه کې څو ټکو ته باید یادونه وشي:

۱ که د پاکستان دولت خپله داسې تاریخ نه لري چې د افغانانو پېژندنه ترې وکړي، نو د خپلو بادارانو لکه انګرېزانو تاریخ دې ولولي او ودې ګوري چې د افغانانو عزم او ارادو د لویې برتانیا د امپراتورۍ سره څه وکړل او څنګه یې هغوی له خپلې خاورې په شرمناکه توګه وشړل؟

۲ که د سلو کلونو د تاریخ د مطالعې توان نه لري، نو لږ تر لږه دې د څلورو لسیزو مخکینۍ تاریخ وڅېړي، چې د افغانستان د ملت ایمان او استقامت د ختیځ امپراتورۍ (شوروي) پر ورانډې څنګه و او افغانو شازلمو روسانو ته کوم درس ورکړ او د تاریخ په پاڼو کې په څه ډول ثبت شوی دی؟

۳ که د څلوېښت کلونو تاریخ د مطالعې توان هم نه لري، نو د تېرو شلو کلونو قضیې دې وڅېړي چې د فاتحینو د خاورې زمریان څنګه د ناټو د یرغل پر وړاندې ودرېدل او د اوسنیو متجاوزینو پوزې یې څنګه په خاورو مالامال کړې؟

که د تاریخ د څېړلو توان هم نه لري، نو د ویلو ده چې د دې خاورې زمریان به یو بل درس د تاریخ پاڼو ته وسپاري، څو راتلونکې نسلونه یې د پاکستان واکمنانو لپاره د عبرت په توګه ثبت کړي، افغان ملت په مېړانه او پایښت پېژندل کېږي، او پاکستان حکومت ته پکار دي چې د افغانانو د قهر راپارولو څخه ډډه وکړي.

# د او آی سي متناقض دريځ؛ د ملالې ملاتړ، د افغان ښځو حقوقو ته اندېښنه خو د فلسطين پر حال چوپتيا

لیکوال: اهرام خان

د ۱۹٦۹ مېبادي کال د اګست په ۲۱ نېټه یوه آسټرالیایي عیسایي ډېنس مایکل په یروشلم کې د مسجد الاقصی ۸۰۰ کلن منبر ته اور واچوه، چې په پایله کې د مسجد اقصی چت هم وسوځېد، د دې پېښې وروسته په ټوله اسلامي نړۍ کې اندېښنه خپره شوه، هغه وخت د فلسطين مشر مفتي امين الحسيني سخت احتجاج وکړ او ټولې اسلامي نړۍ ته یې بلنه ورکړه چې ددې پېښې اړوند یو قاطع دریځ ونیسي.

د فلسطين د مشر مفتي د بلنې په ځواب کې سعودي عربستان او مراکش رامخکې شول، چې د دوی د هڅو په پایله کې په مراکش ښار رباط کې د اسلامي نړۍ مشران راټول شول، په ۱۹٦۹ کال کې د سپتمبر په ۲۵ نېټه د اسلامي سرپرستۍ کنفرانس رسمي بنسټ کېښودل شو، شپږ میاشتې وروسته، سعودي عربستان یو ځل بیا رامخکې شو او د اسلامي هېوادونو د ټولو خارجه وزیرانو لومړی کنفرانس په جده کې جوړ شو، په ۱۹۷۲ کال کې او آی سي ته رسمي بڼه ورکړل شوه او پرېکړه وشوه چې د خارجه وزیرانو غونډه به هر کال کېږي او سربراهي غونډه به هر درې کاله وروسته وي.

د او آی سي په منشور کې ویل شوي چې د دې تنظیم کار د اسلامي اقتصادي ارزښتونو ساتنه، د یووالي پراختیا، د ټولنیزو، اقتصادي، کلتوري، ساینسي او سیاسي برخو کې همکاري پراخول، نړیوال امن او سوله ټینګول او د نوې زده کړې، په ځانګړې توګه د ساینس او ټکنالوجۍ پرمخ وړل دي.

خو بدبختانه، تنظیم د اسلام او مسلمانانو د حقونو لپاره هېڅ د پام وړ اقدامات نه دي کړي او د دوی ټوله کارکردګي تر یو څو غونډو محدوده ده، د فلسطين او مسجد اقصی پر وړاندې د یو اقدام په غبرګون کې رامنځته شوی تنظیم اوس د فلسطين په اړه روان ظلمونه نه ویني او نه یې د نسل وژنې په اړه څه وایي او نه یې په خلاف د کوم اقدام کولو جرئت لري، خو متاسفانه د اسلام او مسلمانانو ترمنځ د

تفرقـه جوړولـو لپـاره، اوس دې تنظيـم تـه پـه اسلامـي هيوادونـو کـې د مداخلـت لپـاره کـار اخيسـتل کيږي.

د دې تنظيـم د بـې پروايـۍ او ضعيـف رول يـوه نښـه دا ده چـې اوس د ملالـې يوسـفزۍ غونـډې متنـازع کـردار تـه د دې پليـټ فـارم د اسـتعمالولو اجـازه ورکـول کيـږي چـې ښـکاره د اسلام ضـد ځرګندونـې کـوي، پـه پاکسـتان کـې د دې تنظيـم پـه کنفرانـس کـې برخـه اخيسـتونکې ملالـه يوسـفزۍ يـوه داسـې څـوك ده چـې خپـل شـهرت يـې د لوېديځـو رسـنيو لـه لارې ترلاسـه کـړی، هغـې مخکـې پـه اسلام او اسلامـي ارزښـتونو ضـد داسـې ځرګندونـې کـړې دي چـې نـه يـوازې مسـلمانان بلکـې هېـڅ غير مسـلم هم داسـې خبرې نه کـوي، پرته له دې چې څـو ځله فکر وکړي.

د هغـې کـردار او ځرګندونـې جوتـوي چـې ملالـه يـوازې د لوېديـځ د اجنـډا ملاتـړ کوونکـې نـه ده، بلکـې د اسلام او مسـلمانانو پـه وړانـدې د نړيوالـو سازشـونو برخـه هـم ده، د هغـې اړيکـې د لوېديځـو بنسـټونو او قدرتونـو سـره د هغـې تفکـر نـور مشـکوکه کـوي او د هغـې اسلام ضـد ځرګندونـې د هغـې د موقـف حقيقـت روښـانه کـوي.

ملالـه يوسـفزۍ يـو ځـل حجـاب او برقعـې تـه "د جاهليـت د زمانـې" نښـه ويلـې وه، چـې دا يـوه ډيـر توهيـن اميـزه خبـره ده، پـه اسلامـي ټولنـه کـې حجـاب د عـزت او حيـاء نښـه ګڼـل کيـږي، خـو د ملالـې دا ځرګندونـې نـه يـوازې د اسلامـي ارزښـتونو توهيـن دی، بلکـې د مسـلمانو ښـځو عـزت تـه هـم سـپکاوی دی؛ سربېره پـر دې، ملالـې د ږيـرې پـه اړه ويلـي و چـې دا د "فرعون" ده، نعوذ بالله؛ چې دا يـو بل جدي توهين دی.

ږيـره پـه اسلام کـې سـنت ده، حتـي د وجـوب خبـره يـې هـم شـته او د نارينـه و لپـاره د عـزت نښـه ده، خـو د ملالـې دا ځرګندونـې ښـيي چـې هغـه اسلامـي تعليمـات د يـو پخوانـي او غيـر پرمختللـي تصـور پـه توګـه ګـوري چـې پـه حقيقـت کـې د هغـې د لوېديځـي او لويدلي فکـر ځرګندونه کوي.

د ملالـې د لوېديـځ اجنډا د دې ځرګندويـي کـوي چـې هغـه د اسلام رښـتينو اصولـو او مسـلمانانو د کاميابـۍ لپـاره نـه، بلکـې د لوېديـځ د کټـو استازيتوب کـوي، د هغـې کتـاب "زه ملالـه يـم" د اسلام پـر وړانـدې مخالفـت او توهيـن اميـزه عبارتونـو نـه ډك دی، د بـي بـي سـي پـه څېـر ادارو سـره د هغـې نـږدې اړيکـې او هغـه ځرګندونـې چـې د اسلامـي تعليماتـو بدنامونـه کـوي، ټولـې دا ښـيي چـې ملالـه يـوه داسـې شـخصيت ده

چې د مسـلمانانو د مسـايلو پر ځای د هغوی ضد د لوېديځ پروپيګنډه خپروي.
د افغانسـتان ښـځو د حقونـو پـه اړه د هغـې څرګندونـې هـم پوښـتنې راپورتـه کـوي، کـه ملالـې پـه حقيقـت کـې د افغـان ښـځو حالـت تـه اندېښـنه لـرلای؛ نـو هغـې بايـد د اسلامـي ارزښـتونو او افغـان کلتـور درنـاوی کـړی وای، چـې هغـه تـرې پـه بشـپړه توګه نا خبره ده.
د لوېديځـې نـړۍ لـه خـوا د افغـان ښـځو د "لوبـو" پـه توګـه وړانـدې کـول او بيـا ملالـه د هغـوی د حقونـو دفـاع کوونکـې بلـل، د افغـان ښـځو توهيـن دی، دا ټـول د لوېديـځ اجنډا برخه ښـکاري چې هدف يې د اسلامي کلتور او ارزښـتونو محوه کول دي.
د ملالـه يوسـفزۍ پـه اړه دا هـم څرګنـده ده چې هغـې د شـهرت ترلاسـه کولـو نـه وړانـدې د CIA د ايجنټانـو سـره خفيـه ليدنـې کولـې، چـې عکسـونه يـې هـم خپـاره شـوي، چـې ددې ليدنـو موخه د مسـلمانانو او اسلام بدنامول و.
د او آی سـي پـه څيـر پليـټ فـارم کـې د ملالـې يوسـفزۍ کـډون د مسـلمانانو د کټـو او د اسلامـي نـړۍ لپـاره يـو د نـه منلـو عمـل دی، او آی سـي بايـد داسـې چـا تـه پـه خپلـو غونـډو کـې بلنـه ور نـه کـړي چـې د اسلام د بنسـټيزو اصولـو او ارزښـتونو توهيـن کـوي، د هغـې ملاتـړ او پروپيګنـډه د اسلام د رښـتينو حقيقتونـو نـړۍ تـه د وړانـدې وړانـدې کولو پر ځای؛ د لوېديـځ د کټو پراختيا ده.
د ملالـې يوسـفزۍ حقيقـت دا دی چې هغـه د اسلام د توهيـن يـوه لوېديځـه کوډاګـۍ ده، چـې مسـلمانانو لپـاره هيـڅ کټـه نـه لـري، د او آی سـي دوه کونـې معيـار د هغـوی سياسـي منافقـت او د مسـلمانانو د حقونو لپاره د هغـوی ضعيف کردار څرګندوي.
تـر هغـه چـې او آی سـي پـه خپـل موقـف کـې تسلسـل او همغـږي نـه راولـي او د فلسـطين پـه کـډون نـورو مسـايلو کـې هـم هغسـې څرګنـدوی او غبـتلی غبرګـون نـه ښـکاره کـوي لکـه څنګـه چې يـې د نـورو اسلامـي هيوادونـو پـه داخلي چارو کـې د مداخلـې لپـاره کـوي، نـو تـر هغـې پـورې بـه ددې تنظيـم د نړيوالـې کچـې اغيـزه ونـه منل شي.
او آی سـی بايـد يـوازې پـه افغانسـتان کـې نـه؛ بلکـې پـه فلسـطين کـې هـم د ښـځو د حقونـو د خونـدي کولـو لپـاره مؤثـره او يـو شـان پاليسـي غـوره کـړي، تـر څـو د اسلامـي نـړۍ پـه وړاندې د هغوی صداقت او اهميت ثابت پاتې شـي.

# آيا د الحاج خليل الرحمن حقاني تقبله الله شهادت، د نظام د ضعف او د دښمن د قوت په معنی ده !؟

ليکـوال الله نور اميري

دا چې تـر لمـر روښـانه او واضحـه ده، چـې د جمهوريت لـه سـقوط سـره سـم، د افغانسـتان اسلامـي امـارت د هېـواد پـر ټولـو ښـارونو، کليـو، دښـتو، غرونـو او رغونـو د خپلـي مبارکـې سـلطې سـپين د امـن څـادر خپـور کـړ او د هېـواد د ټولـو پرکـنو تـر منـځ يـې د يووالـي، اتحـاد او اسلامـي اخـوت فضـا رامنځتـه کـړه، د هېـواد پـه کـوټ، کـوټ کـې ولسـونو پـه ډېـرو خوشـحاليو سـره د نړيوالـو ښـکېلاکرو د ځپلـو، ماتـې او زوال صحنـې ولمانځلې.

لـه خپـل منـځ څخـه راټوکېدلـو شـازلميانو تـه يـې د هېـواد د آبـادۍ، پـر مختـګ او بيـا رغونـې هيلـې او اميدونـه وسـپارل، د جهـاد او سـنګرونو آتلانـو پرتـه لـه کـوم ځنـډ او دمـې اخيسـتلو پـه ټـول هېـواد کـې تـر سـپين کليمـه داره تـوغ لانـدې د يـو سـوچه شـرعي نظـام د حاکميت اعلان وکـړ، داسـې نظـام چـې د اسلامـي خلافـت لـه سـقوط څخـه وروسـته يـې د نړيـوال کفـري اسـتکبار پـه منـځ کـې چـا فکـر هـم نشـو کولای.

خـو د څـه وخـت پـه تېرېدلـو سـره ټـول ملکـي وزارتونـه منظـم او پـه نورمـال شـکل يـې خپـل ورځنـي کارونـه او خدمـات پيـل کـړل او همـدا شـان پـه نظامـي برخـه کـې د تربيـه شـوي اسلامـي پـوځ، اسـتخباراتو او پوليسـو د جوړښـت پـر بهيـر پـه چټکتيـا سـره کار پيـل شـو، خـو اوس دا دی درې کالـه تېـر شـوي او هېـواد مـو د منظـم روزل شـوي پـوځ، اسـتخباراتو او پوليسـو څخـه برخمـن دی، چـې پـه توسـط يـې د هېـواد سـرحدونه، ښـارونه، کلـي او باندونه په امن او امان دي.

هيـڅ څـوک د دې جـرأت نـه لـري چـې د حاکـم نظـام پـر وړانـدې پـه ښـکاره ډول بغـاوت وکـړي او شـته امـن ونـنګـوي، بـس همـدا د نظـام د قـوت او بريـا لـوی راز دی، امـا هدفـي پېښـې د دښـمن د قـوت او پياوړتيـا پـه معنـی نـه دي، ځکـه چـې هدفـي وژنـې دا د نـړۍ پـه تـر ټولـو پـر مختللـو هېوادنـو لکـه: امريـکا، روسـيه، چاپـان او نـورو کـې هـم وخـت، پر وخـت را منځ ته کېږي او د نظام لوی، لوی مسـؤلين هدف کـرزوي.

پـه داسـې حـال کـې چـې یـاد هېوادونـه پـه لکونـو روزل شـوي پـوخ لـري او داسـې تربیـه شـوي اسـتخباراتي قـوت، وسـایل او مراکـز لـري چـې د هـر کـال پـه تېریدلـو سـره د خپـل ټـول هېـواد نیمـه بودیجـه وربانـدي مصرفـوي او یـاد هغـه هېوادونـه دي چـې لـه سـلګونو کلونـو راهیسـي يې په خپلو ښـارونو کې د جنګ څـرك هم نده لېدلی.

نـو ایـا دا پـه دې معنـی چـې یـاد هېوادونـه ضعیـف او د ځـان دفـاع نشـي کـولای؟ یـا هـم د افغانسـتان اسلامـي امـارت چـې د ټـول غـرب اسـتکبار يـې لـه خـاورو سـره خـاوري کـړ اوس د بـې ایمان او اجیر داعشـي په مقابـل کې پاتې راغلی دی !؟

نه، نه داسـې نه ده.

د دې هرڅـه ځواب دا دی:

هـر هغـه دښـمن چـې ښـکاره نـه وي، د جنـګ او مقاومـت کرښـي او مراکـز يـې معلـوم نـه وي، د جنګیالیـو او تجهیزاتـو آنـدازه يـې حدالامکانـه روښـانه نـه وي، د يـو ځـای د نیولـو او فتحـه کولـو اراده او عمـل يـې موجـود نـه وي او د يـو هـدف د تـر سـره کولـو څخـه وروسـته د ځـان سـاتني پـه موخـه خونـدي ځـای و نـه لـري، نـو دې تـه فقـط يـو بـې غیرتـه او بزدلانـه دښـمن ویلای شـو، تـر خپلـه توانـه يـې بایـد مخنیـوی وشـي، امـا داسـې بزدلانـه کړنـي هیـڅ وخـت، نـه د نظـام پیاوړتیـا ننګـولای شـي او نـه يـې هـم د سـپیڅلو اهدافـو د ترلاسـه کولو په لار کې د ځنډ او خنډ سـبب جوړېدلای شي.

نـو پـه همـدې اسـاس نـړۍ او کاونـډي هېوادونـو تـه پـکار ده، چـې د امریـکا او د هغـوی د متحدینـو لـه شـرمونکې شکسـت څخـه درس او عبـرت واخلـي او نـور دې پـه افغانسـتان کـې د خپلـو نامشـروع اسـتخباراتي اهدافـو د تعقیبولـو پـه مټ پـه نـړۍ کـې د يـو لامثاله محکـم اسلامي نظام د تضعیف کولـو خوبونه نه ويني.

# د افغانستان اسلامي امارت خپلواک بهرنی سیاست د نوي پیل نښه

لیکـوال: عبدان صافي

د افغانسـتان د بهرنيـو چارو د وزيـر د هنـد د بهرنيـو چارو لـه سـكرتر وكـرم مسـري سـره وروسـتۍ لېدنــه د پاكســتاني اسـتخباراتي ادارو سـره د ټرلـو ټولنيـزو رسـنيو لـه سـختو منفـي تبليغاتو سـره مخ شوې ده.

دا غبرګـون د هغـه سياسـت ښـكارندويي كـوي چې د افغانسـتان پـه كورنيـو چـارو كـې د بـې ځايـه لاسـوهنې پـر بنسـټ ولاړ و او دا لاسـوهنه د دواړو هېوادونـو ترمنـځ د بې باورۍ لامـل شـوې ده، د پاكسـتان دوديـزه افغانـه تـګلاره، چې د سـتراتيژيك عمـق او د خپلـې خوښـې د حكومـت پـر مسـلط كولـو متمركـزه وه، اوس پـه بشـپړ ډول ناكامه شوې ده.

بلخـوا، د افغانسـتان اسلامـي امـارت خپلـواك بهرنـی سياسـت خپـل كـړی، او هڅـه كوي له ټولو سيمه‌ييزو قدرتونو سره متوازنې اړيكـې رامنځته كړي.

پاكسـتان پـه تېـرو دوو لسـيزو كـې د افغانسـتان پـه چارو كـې د مداخلـې هغـه ډول سياسـت مختـه وړی، چـې نـه يـوازې افغانسـتان تـه، بلكـې پاكسـتان تـه يـې هـم تـاوان رسـولی دی، د طالبانـو لـه واك تـه د رسـېدو وروسـته، اسلام‌آبـاد تمـه لرلـه چې كابـل بـه د دوی تـر سـيوري لانـدې پاتـې شـي، خـو د طالبانـو حكومـت ملـي خپلواكـی تـه لومړيتوب وركړ.

پاكسـتان څـو ځلـه هڅـه وكـړه چې افغانسـتان تـر فشـار لانـدې راولـي، چـې پـكـې د سـرحدي محدوديتونـو، ډيپلوماتيكـو بيانونـو او تـازه هوايـي بريدونـو تـه اشـاره كېـدای شـي، خـو نتيجـه يـې برعكـس وه، پـه افغانسـتان كـې د پاكسـتان ضـد احساسـات د پخـوا پـه پرتلـه لا زيـات شـول او طالبانـو روښـانه كـړه چـې دوی بـه د هېـڅ ډول فشـار تـر اغېـز لانـدې نه راځي، بلكـې د هېواد ملي ګټو ته په ګټـو به پرېكړې كوي.

د پاكسـتان دا سياسـت دومـره ناسـم ثابـت شـوی چـې افغانسـتان تـه د مداخلـې لـه املـه يـې پـه نړيوالـه سـطحه ځـان نـور هـم منـزوي كـړ، وروسـتي هوايـي بريدونـه يـې لويـه بېلګـه ده، چـې نـه يـوازې د نړيوالـو قوانينـو خلاف دي، بلكـې د دواړو هېوادونـو ترمنـځ د اړيكـو د لا خرابېـدو سـبب شـوي دي، دا خـو يـې لا پيـل دی خـو كـه اسلام‌آبـاد خپلـه

پاليسـي بيـا و نـه ارزوي، نـو پـه راتلونكـي كـې بـه لـه لا زياتـو ديپلوماتيكـو ننګونو سـره مخ شي.

د افغانسـتان اسلامـي امـارت بهرنـۍ سياسـت اوس يـو آزاد او متـوازن مسـير نيولـی دی، طالبانـو روښـانه كـړې چـې دوی بـه يـوازې پـر يـوه هېـواد تكيـه نـه كـوي، بلكـې لـه ټولو ګاونډيو هېوادونو سـره به د مسـاوي دريځ پر بنسـټ اړيكـې ساتي.

د هنـد د بهرنيـو چـارو د سـكرتر سـره د افغانسـتان د بهرنيـو چـارو د وزيـر لېدنـه د همـدې سياسـت يـوه برخـه ده، طالبانـو اوس لـه هنـد سـره د عملـي اړيكـو د سـاتلو پرېكـړه كـړې، ځكـه چـې افغانسـتان تـه د اقتصـادي، سـوداګريزو او ديپلوماتيكـو همكاريـو اړتيـا ده، هنـد د سـيمې يـو مهـم قـدرت دی او پـه افغانسـتان كـې يـې د پرمختيايي پـروژو لپاره همكاري كړې.

د افغانسـتان اسلامـي امـارت پـه دې پوهيـږي چـې يـوازې لـه يـوه هېـواد سـره اړيكـې محـدودې كـول هوښـيارتيا نـه ده، بلكـې د ټولـو قدرتونـو سـره ښـې ديپلوماتيكـې اړيكـې سـاتل د اوږدمهالـه ثبات ضمانت كوي.

طالبانـو همـدا تـګلاره د منځنـۍ آسـيا لـه هېوادونـو، ايـران، چيـن او روسـيې سـره هـم تعقيـب كـړې ده، لـه ازبكسـتان او تركمنسـتان سـره سـوداګريزې اړيكـې پراخـې شـوې، لـه ايـران او چيـن سـره اقتصـادي همـكاري زياتـه شـوې، چـې دا ټـول د دې ثبـوت دی چـې افغانسـتان اوس لـه نړيوالـې انـزوا څخـه راوزي او د يـوه خپلـواك دولـت پـه توګـه خپـل دريځ ټينګوي.

پاكسـتان تـل هڅـه كـړې چـې افغانسـتان د يـو تابـع هېـواد پـه توګـه وګـوري، خـو د افغانسـتان اسلامـي امـارت روښـانه كـړې چـې د خپلواكـۍ پـه معاملـه كـې هېـڅ ډول معاملـه نـه كـوي، وروسـتي هوايـي بريدونـه د پاكسـتان او افغانسـتان ترمنـځ د بـې بـاورۍ فضـا نـوره هـم ژوره كـړې او كـه دا وضعيـت دوام ومومـي، نـو د دواړو هېوادونـو اړيكـې به لا ډېرې كړكېچنې شي.

پاكسـتان بايـد دا درك كـړي چـې لـه افغانسـتان سـره ملكرتيـا يـوازې د برابـرۍ او متقابـل احتـرام پـر بنسـټ ممكنـه ده، كـه اسلام‌آبـاد پـر خپلـې زړې پاليسـۍ ټينـګ پاتـې شـي، نـو دا بـه نـه يـوازې لـه افغانسـتان، بلكـې لـه نـورو سـيمه‌ييزو قدرتونـو سـره هـم د منـزوي كېـدو سـبب شـي، د طالبانـو پاليسـي واضحـه ده، چـې دوی لـه هـر هېـواد سـره د برابـرۍ پـر اسـاس اړيكـې غـواړي، او كـه پاكسـتان هـم دا اصـل ومنـي، نـو د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيكې ښـې كيدای شـي.

# افغانستان د بشپړې سولې او آرامۍ ټاټوبی !

لیکـوال: جنید زاهد

نـړۍ والـو پـه خپلـو ذهنونـو کـې دا بـاور ځـای پـر ځـای کـړی چـې افغانسـتان د جګـړو او کړکېچونـو ځـای دی، مـوږ بایـد نـړۍ تـه وښـایو چـې افغانسـتان اوس د یـوه پیـاوړي او باثباته نظام تر سیوري لاندې؛ د سـوله ییز ژونـد لپاره خوندي ځای دی.

نـړۍ کوشـش کـړی چـې دا سـیمه د جګـړو او تباهیـو ځـای وښـیي او خلـك یـې دې تـه قانع کړي وو چې افغانسـتان د امن لپاره مناسب ځای نه دی.

خـو رښـتیا د دې رسـم شـوي تصویـر خلاف دي؛ افغانسـتان د آرام او مهمـان نـوازو خلکـو خـاوره ده او اوس د اسلامي نظام د راتلګ سـره یو خوندي ځای دی.

داعـش او د سـیمې، نـړۍ اسـتخباراتي سـازمانونه؛ چـې وخـت نـا وخـت پـه دې خـاوره کـې شـخړې راپـاروي، د دې سـیمې د بشـپړ امنیـت د خرابولـو، د دې چاپیریـال د غیـر ژونـدي کولـو، د دې خـاورې د نورمـال حالـت لـه منځـه وړلـو، د جګـړې او وینـو بادولـو او دلتـه د بیـا حاکمیت توان نه لري.

هغـه کسـان چـې د دې خـاورې د نـا امنـه کولـو فکـر کـوي، ښـکاره ده چـې د خپلـو سـرونو سـره لوبـې کـوي، ځکـه چـې دا نظـام او ددې نظـام ځواکونـه ارام نـه کینـي او هیڅکلـه بـه اجـازه ورنـه کـړي، چـې څـوك د دې واحـد سیاسـي جوړښـت د خرابولـو لپـاره کـار وکـړي.

پـه افغانسـتان کـې حاکـم امنیـت دومـره د سـتاینې وړ دی، چـې د غربـي مشـرانو لـه خـوا هـم دا واقعیـت منـل شـوی دی، حقیقـت دا دی چـې د اسلامـي نظـام د راتـلګ سـره افغانسـتان د سـیمې د تر ټولو خوندي هیوادونو په لست کې راځي.

پـه افغانسـتان کـې امنیـت داسـې دی، چـې پـه زیاتـو هېوادونـو کـې نـه مونـدل کېـږي، هـر وګـړی او ښـاروند پـه بشـپړه آرامـۍ سـره شـپه و ورځ سـبا کـوي، ورځ ارامـه پـه خپـل کـار او ژونـد کـې تېـروي، د افغانسـتان امنیـت دا ځانګړتیـا لـري چـې د هـر قوم او نسـل لپاره دی.

دې خـاورې تـه سـیلانیان چـې دلتـه د لیـدو لپـاره راځـي، پـه پیـل کـې د داډ نشـتوالی

لـري، خـو وروسـته لـه څـو ورځـو د دې ښـکلا ، امنيـت او طبيعـي روڼتيـا څخـه بېلېـدل ورته ستونزمن کېږي.

دا ادعـا بـې بنسـټه نـه ده؛ بلکـه تاسـو کولـی شـئ دې هېـواد تـه د سـيلانيانو د مجـازي پاڼـو او ليکلـي راپورونـو څېړنـه او کتنـه وکـړئ، تاسـو بـه وګـورئ، چـې څومـره يـې د حاکـم نظـام او امنيت ستاينه کړې او څومره يې د دې عـام امنيت تعريف کړی.

افغانسـتان، د اوږدو جګـړو، قربانيـو او هڅـو وروسـته، د بشـپړې سـولې، امنيـت او اسـلامي حاکميـت پـر لـور ګامونـه اخلـي. د اسـلامي امـارت تـر قيـادت لانـدې هيـواد د خارجـي اشـغال، داخلـي فتنـو او جرمـي ډلـو لـه شـره خـلاص شـوی، او اوس خلـك پـه ازاد فضـا کـې د امـن، تعليـم، دينـي ارزښـتونو او اقتصـادي پرمختـك لپـاره کار کـوي. دا يـو نـوی پيـل دی، چېرتـه چـې اسـلامي عدالـت، شـفافيت، وروروڵـي او خپلواکـي د ټـول ملـت خـوب تـه تعبير ورکوي.

# پنځم فصل

# بېلابېلې ليکنې

# پاکستان پېښور او خېرمه سيمو کې د داعشيانو د روزنيزو مراکزو په شتون اعتراف وکړ

ليکنـه: المرصاد اداره

د افغانسـتان د اسلامـي امـارت مسـؤلينو، د المرصـاد د مکـررو راپورونـو پـه تائيـد سـره، ويلـي و چـې د خراسـان خـوارج پـه پاکسـتان کـې روزنيـز مرکزونـه لـري، هلتـه خپلـو جنګياليـو تـه روزنـه ورکـوي او بيـا يـې د افغانسـتان ترڅنـګ د سـيمې نـورو هيوادونـو ته لېږي.
تـازه د پاکسـتاني پـوځ لـه تبليغاتـي دسـتګاه سـره يـوې تړلـې رسـنۍ د ترهګـرۍ ضـد اداري د سـرچينو لـه قولـه تاييـد کـړې چـې داعشـيان پـه پېښـور ښـار او ورڅېرمـه سـيمو کـې د ځانمرګـو روزنيز کمپونه لري او خپـل جنګيالي پکـې روزي.
د خيبـر کرونيکلـز پـه نـوم رسـنۍ پـه خپـل راپـور کـې زياتـه کـړې چـې پـه همـدې روزنيـزو کمپونـو کـې يـو شـمېر تربيـه شـويو داعشـيانو تـه پلان سـپارل شـوی چـې پـر پاکسـتاني سياسـتوالو او اهدافـو بانـدې بريدونـو ترسـره کـړي. (المرصـاد پـه تېـره اکتوبـر مياشـت کـې خبـر ورکـړی و چـې داعشـيان پـه پاکسـتان کـې د مطرحـو دينـي او سياسـي څېـرو او هغـو کسـانو د تـرور پلان لـري چې د پاکسـتاني رژيـم مخالـف دي).
خيبـر کرونيکلـز دا څرګندونـې پـه هغـه راپـور کـې کـړې چـې پـه پېښـور کـې د درو داعشـيانو د نيول کېدو په هکله يې نشـر کړی دی.
دا رسـنيز ادرس د پاکسـتاني پـوځ او امنيتـي ادارو لـه مطبوعاتـي څانګـې ISPR سـره نـږدې تـړاو لـري او مالـي ملاتـړ يـې هـم د همـدې اداري لخـوا کيـږي. لکـه لـه نومـه چـې يـې څرګنـده ده، د دې رسـنيز ادرس زيـات تمرکـز د خيبـر پښـتونخوا او قبايلـو پـر سياسـي او امنيتـي وضعيـت دی او، د ISPR لـه ملاتـړه د برخمنـو نـورو ادرسـونو پـه څېـر، د خپلـې ويـب پاڼـې ترڅنـګ د سوشـل ميډيـا پـر اکاونټونـو يـوازې د پـوځ دريځونـو تـه پـه غيرمسـتقيم ډول پوښـښ ورکـوي او نور کـوم نشـريات نه لري.

# داعشي خوارج په راټولو شویو پیسو کې د خپلو مسؤلینو فساد اندېښمن کړي دي

ليکنه: المرصاد اداره

د روانې رجب میاشتې په اتمه نېټه داعشیانو په بېلابېلو ژبو پوسټرونه خپاره کړل چې په هغو کې یې خپلو همفکره خلکو ته لارښوونه کړې وه چې مالي مرستې د خوارجو لخوا معرفي شویو مسؤلینو ته وسپاري.
دا پوسټرونه د البصائر په نوم یوې غیرمعروفې نشراتي مؤسسې جوړ کړي او وروسته د داعشیانو د فرسان الترجمة ګروپ د فرانسوي او انګلیسي ترڅنګ ټولو هغو ژبو ته ژباړلي چې داعشي خوارج رسمي او غیررسمي تبلیغات ورباندې کوي.
په یادو پوسټرونو کې ویل شوي چې له خوارجو سره مرسته کول پر ټولو مسلمانانو فرض دي، "خو په خواشیني سره باید ووایو چې د الله په لار کې د مجاهدینو، بندیانو، یتیمانو او کونډو په نوم د راټولو شویو پیسو یوه لویه برخه مستحقو کسانو ته نه رسیږي".
داعشیانو په دې پوسټرونو کې ګواښ کړی چې څوک چې کومکونه راټولوي او "خودسرانه یې وېشي دېر ژر به ورسره حساب وشي او پر وړاندې به یې لازم اقدامات ترسره شي".
د جهاد په نوم پیسې راټولول او بیا یې په شخصي اغراضو مصرفول د داعش د مالي مسؤلینو ترمنځ عامه خبره ده، خو له اوسنیو ګواښونو ښکاري چې د داعشیانو په مالي اداره کې دې فساد نور هم سرایت کړی دی. د ۲۰۲۲ز کال په مارچ میاشت کې داعشیانو ویلي و چې د آفاق په نوم د خوارجو د سایبري امنیت په برخه کې د یوې فعالې مطبوعاتي مؤسسې چلوونکو د داعشیانو په نوم راټولې کړې پیسې په خپلو شخصي چارو لګولې او خپل شرکت یې ورباندې جوړ کړی و.
په عراق، سوریه، افغانستان او نورو ځایونو کې تر سختو ماتو خوړلو وروسته د داعشي خوارجو مالي ستونزې زیاتې شوې دي او دا پوسټرونه څرګندوي چې د منظم دول له خلکو د پیسو راټولولو د هڅو یوه برخه ده.
داعشیانو د خپل واک په شپو ورځو کې د اقتصادي تجربې تر نامه لاندې یوه پروسه

پيل کړي وه چې له مخې به يې د خوارجو هر ولايت مرکز ته د نيول شويو مالونو ۲۵٪ برخه لېږله، مرکزي تنظيم به بيا دا پيسې د خپل ځان او نورو څانګو د تمويل لپاره کارولې. خو په زياتو سيمو کې تر ماتې خوړلو وروسته، دا پروسه ناکامه شوه او اوس د داعشيانو د تمويل غټه سرچينه هغه پيسې دي چې له خپلو ملاتړو يې په سوال او له عامو مسلمانانو يې په زور راټولوي.

داعشي خوارج د راټولو شوو زکات، غنيمت او بهرنيو مرستو له پيسو څخه د خپلو مسؤلينو د شخصي استفادې له امله د سختو داخلي فسادونو او اختلافاتو سره مخ دي. د "اريکسون ليك" او نيويارك ټايمز راپورونه ښيي چې د دې ډلې مشران د خلکو له ماليو ناوړه استفاده کوي. دا وضعيت د هغوی په ليکو کې بې باوري، اختلاف او کمزوري راوستې، چې د دوی د زوال يو ښکاره لامل ګڼل کېږي.

# په کابل ښار کې د داعشي فتنه ګرو يوه مهمه شبکه نيول شوې

ليکنه: المرصاد اداره

المرصاد لـه يـوې سـرچينې څخـه معلومـات ترلاسـه کـړي چـې د تيـرې چهار شـنبې پـه ورځ چـې د ۲۰۲٤ جـولای ۱۰ مـې نيټـې سـره سـمون خـوري، د اسلامـي امـارت ځانګـړو ځواکونـو د کابـل ښـار پـه پنځمـه ناحيـه کـې د داعشـي فتنـه ګـرو پـه يـو پټنځـای عمليـات ترسـره کـړي، د دوی د يـوې مهمـې شـبکې يـو شـمير غـړي يـې نيولـي دي او د دې پټنځـای څخـه يـې زياته اندازه منفجره مواد ، وسـله او مهمات لاس هم ته راوړي دي.

د داعــش فتنــه ګــرو دې شــبکې غوښــتل د محــرم د مياشــتې پــه مراســمو بانــدې مرګوني بريدونه ترسره کړي.

ويـل کيـږي د دې پټنځـای مسـؤول يـو داسـې افغـان دی چـې پـه يـو کاونـډي خارجـي هيـواد کـې اوسـيده، د داعـش خراسـان ځانګـې لـه لـوري چـې مرکـز يـې پـه بلوچسـتان کـې دی جـذب شـوی، لومـړی يـې يـوه پاکسـتانۍ تبعـه ميرمـن پـه نـکاح ورکـړې او بيا يې له روزنې وروسـته افغانسـتان ته را استولی دی.

سـرچينه زياتـوي چې پـه نيـول شـوو کـې هغـه داعـش فتنـه ګـر هـم شـامل دی چـې څـو مياشـتې مخکـې يـې د کابـل ښـار پـه کوټـه سـنګي سيمه کـې د اهـل تشـيع د يـو سـپرلۍ پـه موټر بريد ترسـره کړی و.

ويـل کيـږي لـه دې شـبکې څخـه پـه پاکسـتان کـې د ځينـو مذهبـي علمـاوو، مدرسـو او حکومـت مخالفـو مطـرح شـخصيتونو او سياسـتوالو يـو لسـت هـم لاس تـه راغلـی دی چـې داعشـي فتنـه ګـر غـواړي تـرور يـې کـړي او پـه دوی کـې ځينـې تـرور شـوي هـم دي، همدغـه راز پـه افغانسـتان او يـو بـل کاونـډي هيـواد کـې هـم لـه دوی څخه د ځينو اهدافو لسـت ترلاسـه شوی دی.

# د تورتم فتنه

خوارج د مسلمانانو تکفیر کوي، او هغوی د ګناه له امله واجب‌القتل بولي.

دلیل: شیخ الإسلام ابن تیمیة رحمه‌الله فرمایي:

"والخوارج هم أول من كفر المسلمين؛ يكفرون بالذنوب و يكفرون من خالفهم في بدعتهم ويستحلون دمه وماله. "
[مجموع الفتاوى ٢٧٩ / ٣]

(خوارج هغه لومړني کسان و چې مسلمانان یې د ګناهونو له امله کافران وبلل؛ هغوی هر هغه څوک کافر ګڼي چې د دوی له بدعت سره مخالف وي، وينه تويول او مال اخیستل یې حلال بولي.)

داعشي خوارج هم د مسلمانانو تکفیر کوي؛ که هغه عالم وي، که مجاهد، او که عام مسلمان؛ قتل کول یې حلال او د ځان لپاره ثواب ګڼي.
نه تر سترګو کېږي.